نمبر مسلسل 6

د افغانستان اسلامي امارت

د کانونو او پټرولیم وزارت




# مجله معادن

**په دغه ګڼه کې**

- د کانونو او پټرولیم وزیر له قزاقستاني پلاوي سره وکتل.
- دیدار معین مالی و اداری با سرمایه‌گذاران هندی.
- ارزیابی سیستم‌های تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان و ارائه راهکارهای بهبود ایمنی و مدیریت هوا.
- کانونه بیت المال دي؛ د کانونو په قراردادونو کې روڼتیا، عدالت او د عامه داوطلبۍ ارزښت.
- وخت؛ د برخلیک خاموشه قاضي او یوه نا پېژندل شوې، خو بې سارې پانګه ده.

**دویمه دوره: شپږمه ګڼه**

۱۴۰۵ هـ ل، لومړۍ ربع: کب، وری، غویی

د کانونو او پټرولیم وزارت

د مجلې چاپ

دوېیمه دوره: شپږمه ګڼه

لړلیک / فهرست | مخ

سرلیک | الف
خبرونه | ۱
د وزارت شعار | ۸
ارزیابی سیستم‌های تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان و ارائه راهکارهای بهبود ایمنی و مدیریت هوا | ۹
کانونه بیت المال دي، د کانونو په قراردادونو کې روڼتیا،عدالت او عامه دواطلبی ارزښت | ۱۶
طراحی برمه‌های اکتشافی تکمیلی با استفاده از روش مدیریت خطای جیواستاتستیکی در معدن سنگ آهن سیریز | ۲۸
د کونډو ښځو د حقوقو په برابرولو کې د امیر المؤمنین حفظه الله د فرمان اغېزې | ۳۶
وخت؛ د برخلیک خاموشه قاضي او یوه نا پېژندل شوې، خو بې‌ساري پانګه ده | ۴۳
معلومات در مورد فلورایت | ۵۶
معلومات مختصر در مورد معرفی ریاست پروژه مس عینک | ۵۸

**د امتیاز څښتن:** د کانونو او پټرولیم وزارت

**ترتیب کونکی:** د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

**مسوول مدیر:** نصیر احمد ارغندیوال

**ډیزاینر:** مطیع الله سحر احمدزی

**چاپ کال:** ۱۴۰۵، غبرګولې میاشت

**دویمه دوره:** شپږمه ګڼه، کال ۱۴۰۵ هـ ل

**ټوک شمېر:** ۷۰۰

یادونه: د مضمونونو او مقالو مسوولیت د درنو لیکوالانو پر غاړه دی.
د مجلې لیکنو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.



# سرلیکه

کانونه د الله تعالی هغه ستر نعمتونه دي، چې د ځمکې په تل کې د انسان د ګټې لپاره اېښودل شوي دي. شریعت د دې نعمتونو د کېندنې، ساتنې او عادلانه وېش لپاره داسې ځرګند او پیاوړي اصول لري، چې د امت د هوساینې او اقتصادي پیاوړتیا ضمانت کوي؛ که دا اصول په سمه توګه عملي شي، د امت اقتصاد پیاوړی کېږي، فقر کمېږي، د کار زمینه پراخېږي او د راتلونکو نسلونو حقونه خوندي پاتې کېږي.
نو د کانونو په اړه د شرعي مکلفیتونو پېژندل یوازې اقتصادي بحث نه دی، بلکې د عدالت، امانت او د عامه شتمنیو د سم مدیریت یو بنسټیز او خورا مهم اصل دی؛ داسې اصل، چې زموږ د ملت د پرمختګ، هوساینې او دوامدارې ودې لپاره ځانګړی ارزښت لري.
دې موضوع کې ټول ولس پوره مسوولیت لري، ځکه یوازې د اسلامي نظام مسوولین د ټولو کارونو له عهدې نه شي وتلای، هر قراردادي په شرعي، قانوني او اخلاقي ډول مکلف دی، چې خپلې پرېکړه شوې ژمنې په صحیح، روڼ او مسوولانه توګه ترسره کړي. د کار له لومړنۍ سروې څخه نیولې تر تولید، لېږد او پلور پورې باید الله تعالی حاضر او ناظر وګڼي، ځکه همدا باور انسان د هر ډول خیانت، غفلت او فساد څخه ساتي. قراردادیان باید په تولید کې بشپړ احتیاط وکړي، اضافي مواد ضایع نه کړي او له احتکار، انحصار او بېځایه ګټې اخیستنې څخه ځانونه وساتي. د بنسټیزو چارو په ترسره کولو کې دې د راتلونکو نسلونو حق او اړتیاوې په پام کې ونیسي، څو د ملک په اوږدمهاله پرمختګ کې ونډه واخلي او د راتلونکي نسل حقونه ضایع نه شی ځکه طبیعي زېرمي د راتلونکو نسلونو د بقاء ثبات او پرمختګ اساسي بنسټ جوړوي.
له اسراف او بېځایه مصرف څخه ډډه، د چاپېریال ساتنه او د بیت‌المال مراعت د هر مومن او هر مسلکي انسان بنسټیزې دندې دي، ځکه د الله تعالی مخلوقاتو ته ضرر رسول ستر جرم دی او لویه پوښتنه لري.
کانونه د الهي نعمتونو له جملې یو ستر او ځانګړی نعمت دی. دا هغه زېرمې دي، چې د انسان د ژوند د ارتقاء لپاره د اقتصاد، صنعت او تمدن د پیاوړتیا بنسټ جوړوي. د اسلامي نظام د پالیسی مطابق طبیعي شتمنۍ —لکه کانونه¬— د ټول ملت ګډ ملکیت دی، نه یوازې د اشخاصو یا ځانګړو ډلو لکه، چې د رسول الله ﷺ له دې نبوی فرمانه الهام اخیستل کیږي: «المسلمون شركاء في ثلاث: الكلأ والماء والنار»( ) یعنې: "خلک په درې شیانو " کې شریک دي: په څرځای، اوبو او اور(طبیعي سرچینې).
له بل پلوه کانونه د وخت په څېر ارزښت لري؛ ځکه د استخراج، مدیریت او ساتنې مناسب وخت لري؛ که یو ځل له لاسه ووځي یا په ناقصه توګه وکېندل شي، بېرته ترلاسه کول یې ناممکن یا ډېر ستونزمن ګرځي. له همدې امله د نړۍ پرمختللي ملکونه هڅه کوي چې خپلې زیرمې وساتي او د نورو ملتونو له طبیعي شتمنیو څخه ګټه پورته کړي.
دا هغه حقیقت دی چې اقتصاد پوهان یې د «Resource-based global strategy» په نوم یادوي.
افغانستان د نړۍ له هغو ملکونو څخه دی چې طبیعي زېرمې یې د اقتصاد د بیا احیاء لپاره ستر فرصت دی. ټکنالوجۍ، صنعت، انرژۍ، درمل‌جوړونه، الکترونیک، دفاعي وسایل او د پرمختللي تولید برخې ټول په کانونو ولاړ دي د لیتیم، سرو زرو، مسو، اوسپنې، تیلو، ګازو، زمرودو، لاجوردو او نادره فلزاتو پراخه زېرمې د دې خاورې لپاره د الله تعالی د ځانګړي تقدیر برخه ده؛ چې معاصر تکنالوجۍ، صنعت، انرژۍ، درمل‌جوړونې، برقي توکي پرې ولاړ دی او له دې پرته هیڅ پرمختللی نظام نه شي جوړېدلای خو مناسب مدیریت، علمي استخراج، شفاف قانوني چوکاټ او اقتصادي ستراتیژۍ غواړي، که دا موضوعات سم مدیریت نه شي نو دا ستره شتمني به د خلکو د هوساینې پر ځای د ستونزو لامل وګرځي.
له همدې امله د شریعت، اقتصاد او داخلي حاکمیت له نظره د کانونو موضوع یوازې فني نه ده، بلکې یوه امانتي، ستراتیژیکه، حقوقي او تر نسلونو پورې تړلې مسئله ده. د ملت د عزت، اقتصادي استقلال، علمي پرمختګ او اسلامي عدالت د تحقق لپاره اړینه ده، چې دا زېرمې د شفاف مدیریت، ملي مالکیت، عادلانه وېش او مسلکي پلان پر بنسټ اداره شي، تر څو د امت ګډ حق، د شخصي ګټې، فساد یا استعماري فشار قرباني نه شي.

# خبرونه

## د کانونو او پټرولیم وزیر له قزاقستاني پلاوي سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د قزاقستان د ټرانسپورټ وزارت له مرستیال ژاني بیک تایزانوف، د صنعت او ساختمان مرستیال شارخان ایران، د ربل پټلۍ رئیس میر بیکوف یرکین، د پټلۍ د لارې د بهرنیو خدماتو رئیس کینزبیکوف نورلان، د سفارت مستشار ایات یلژینوف(Aiyat Yeleussinov)، د شرکت مرستیال ګلروزوف بهروز، د مدیره پلاوي جي ډبليو ايم کیپټل(GWM CAPITAL) رئیس کودایبرګن، د داخلي مرکز د راتلونکي ټکنالوژۍ عمومي رئیس ویدریشیف الفارابي سره د وزارت د غونډو په تالار کې وکتل.

دواړو لورو په دغه لیدنه کې د اړیکو پر ټینګښت، دوه اړخیزې سوداګرۍ، د جیولوجیکي اکتشاف او نورو اړوندو کاني سرچینو په اړه بحث او نظرونه شریک کړل.

د قزاقستان د صنعت او ساختمان وزارت مرستیال: ”د اپرېل میاشتې په ترڅ کې د اخیستل شویو ځینو نمونو د ازمایښتون پایلې مثبتې وبللې او د وزارت له رهبرۍ څخه یې مننه وکړه، نوموړي همدارز د افغانستان د کاني سرچینو په ځانګړې توګه د سروزرو او مسو کانونو په برخه کې د خپل ملک د کان کیندنې شرکتونو د پانګونې لېوالتیا په اړه خبرې وکړې“.

همدارز د قزاقستان د ټرانسپورټ وزارت مرستیال ژاني بیک تایزانوف له تورغونډۍ څخه تر هرات مرکز پورې د ربل پټلۍ د جوړوېدو په موخه د کان په بدل کې خپل وړاندیز د وزارت له مشرتابه سره شریک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر د ښه راغلاست ترڅنګ د ملک د کاني سرچینو په اړه معلومات شریک او د پانګونې په برخه کې یې د هغوی د لېوالتیا هرکلی وکړ نوموړي ډاډ ورکړ، چې د کانونو د قانون او کړنلارې اړوند به ورسره همکاري وکړي.





# د کانونو او پټرولیم وزیر د ایران له سفیر سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د ایران اسلامي جمهوریت له سفیر ښاغلي علي رضا بیکدلي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو د اقتصادي همکاریو پر پیاوړتیا، د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیا په ځانګړې توګه د ملک د کاني زېرمو په برخه کې د پانګونې په اړه بحث او نظرونه شریک کړل.

د ایران سفیر په افغانستان کې بشپړ امنیت او بډایه کاني زېرمې د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا لپاره یو ښه فرصت وباله او دغه‌رازیې د اوسپنې او نفتو کانونو په برخه کې د ایراني شرکتونو د پانګونې د لېوالتیا په اړه خبرې وکړې.

د کانونو او پټرولیم وزیر د ایراني شرکتونو له لوري د کانونو په برخه کې د پانګونې د لېوالتیا هرکلی وکړ او د لازمو همکاریو ژمنه یې ورسره وکړه.



# د پالیسي او برنامو مرستیال او د ترکیې اې ټي اې متېک (ATA-MTAAIC) کمپنۍ له رئیس سره انلاین غونډه ترسره شوه

د کانونو او پټرولیم وزارت د پالیسۍ او برنامو مرستیال عبدالرحمن قانت د ترکیې د اې ټي اې متېک (ATA-MTAAIC) کمپنۍ له رئیس سره انلاین غونډه کې د افغانستان د کاني زېرمو په برخه کې د پانګونې په اړه خبرې وکړې.

د اې ټي اې متېک (ATA-MTAAIC) کمپنۍ رئیس د افغانستان او ترکیې ترمنځ اړیکې تاریخي وبللې دغه‌راز نوموړې د خپلې کمپنۍ په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل:" زموږ کمپنۍ په اسیایي او افریقایي ملکونو کې د سروزرو او مسو په برخه کې خپل کار کوي او له ډېرې تجربې څخه برخمنه ده همدارنګه د افغانستان د سروزرو او مسو کانونو په برخه کې یې د پانګونې په موخه خپله لېوالتیا ښکاره کړه".

د پالیسۍ او برنامو مرستیال وویل: "موږ خوښ یو چې له تاسو سره په بېلابېلو برخو کې ګډ کار وکړو، تاسې کولای شئ، چې د افغانستان په کاني زېرمو کې پانګونه وکړئ او موږ چمتو یو چې په یادو برخو کې تاسو ته اسانتیاوې رامنځته کړو".

# دیدار معین پالیسی و برنامه‌ها با سرمایه‌گذاران خارجی



محترم عبدالرحمن قانت معین پالیسی و برنامه‌ها با سرمایه‌گذاران خارجی در دفتر کاری شان دیدار نمودند.

در این دیدار هر دو جانب روی موضوعات سرمایه‌گذاری بالای منابع معدنی کشور بحث و تبادل نظر نموده، سرمایه‌گذاران مذکور از فراهم سازی زمینه مناسب سرمایه‌گذاری و امنیت سر تا سری کشور از سوی امارت اسلامی افغانستان اظهار قدردانی نموده و علاقه‌مندی شان را روی سرمایه‌گذاری بالای معادن کشور به ویژه سرب، انتیمونی و طلا ابراز کردند.

معین پالیسی و برنامه‌ها از علاقمندی شان غرض سرمایه‌گذاری استقبال نموده و اطمینان دادند که در راستای فراهم سازی زمینه سرمایه‌گذاری با ایشان مطابق قانون و طرزالعمل معادن همکاری خواهند نمود.

# دیدار معین مالی و اداری با سرمایه‌گذاران هندی

مولوی حسام‌الدین صابری معین مالی و اداری وزارت معادن و پترولیم  با سرمایه‌گذاران مملکت هندوستان در دفتر کاری شان دیدار نمودند.

در این دیدار سرمایه‌گذاران هندی با تشکری از فرصت مساعد شده و ابراز احساسات و دیدگاه‌های شان از اوضاع فعلی مملکت، بیان داشتند:"افغانستان فرصت‌های خیلی خوب برای سرمایه‌گذاران دارد و علاقمندی شان را روی سرمایه‌گذاری بالای معادن مملکت به ویژه مس و آهن ابراز نمودند".

معین مالی و اداری وزارت معادن و پترولیم از علاقمندی شان غرض سرمایه‌گذاری بالای منابع معدنی افغانستان استقبال نموده گفتند:" آن عده سرمایه‌گذاران خارجی که خواهان سرمایه‌گذاری بالای معادن افغانستان می‌باشند، وزارت معادن و پترولیم به منظور تشویق و جلب سرمایه‌گذاران آنها آماده همکاری‌های قانونی و ایجاد سهولت‌های لازم می‌باشد".



# د دایکندي ولایت د مرمر ډبرو تړون لاسلیک شو



د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د دایکندي ولایت د مش علیا د مرمر ډبرو تړون، چې (۱۶.۷۴) کیلومتره مربع مساحت لري د( میزان سلطاني) شرکت سره د دېرشو کلونو لپاره لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر د یاد تړون د لاسلیک پرمهال وویل: "د دې تړون په لاسلیک سره به د عوایدو سربېره د سیمې خلکو ته کاري فرصتونه برابر شي او دغه‌راز به د مرمر ډبرو پروسس د ملک دننه ترسره شي او له پروسس وروسته به بهرنیو ملکونو ته صادرې شي".

د یادونې وړ ده چې یاد شرکت به د اکتشاف او استخراج په برخو کې د(۲۸۳) میلیونو افغانیو په ارزښت پانګونه وکړي، د دې ترڅنګ به له(۲۰۰) څخه زیاتو وګړو ته کاري فرصتونه برابر کړي او د سیمې خلکو ته به د ټولنیزو چوپړتیاوو په برخه کې هم کار وکړي.




# داوطلبی فروش مقدار ۱۰۰۰۰ تن نفت خام ساحه انگوت

داوطلبی فروش مقدار(۱۰۰۰۰) تن نفت خام ساحه انگوت حوزه آمو دریا  با حضور حافظ دیپلوم انجنیر محمد حامد حیدری رئیس نظارت بر تطبیق قراردادهای نفت و گاز، هیئت موظف و مسؤولین تصفیه خانه‌های داوطلب در صالون کنفرانس‌های وزارت معادن و پترولیم برگزار گردید.

در نخست رئیس نظارت بر تطبیق قراردادهای نفت و گاز در رابطه به سهولت‌های مهیا شده در بخش‌های سرمایه‌گذاری، مساعد شدن زمینه کار، رشد و توسعه اقتصادی مملکت صحبت نمودند.

در این داوطلبی از میان اشتراک کننده‌گان، تصفیه خانه افغان صافی با ارایه بلند ترین نرخ بازار جهانی برنت(+ ۲.۱۰) برنده(۱۰۰۰۰) تن نفت خام ساحه انگوت حوزه آمو دریا به ارزش بیش از(۴.۵) میلیون دالر امریکایی اعلان گردید.


شعار
کاني زېرمې مو شتمني ده،
مدیریت مو مسوولیت



# ارزیابی سیستم‌های تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان و ارائه راهکارهای بهبود ایمنی و مدیریت هوا

**انجنیر عبدالواحد "مجیدی"**
**ماستر ترینر استخراج معادن زیرزمینی ریاست انستیتوت معادن وزارت معادن و پترولیم**

**چکیده**

تهویه مناسب یکی از اساسی ترین عناصر ایمنی و بهره وری در معادن زیرزمینی است. در افغانستان به دلیل نبود سیستم‌های معیاری تهویه، تجهیزات غیر معیاری، کمبود متخصصین و نظارت ضعیف، مشکلات جدی از جمله تجمع گازهای مضره، گرد و غبار، کمبود آکسیجن و افزایش دما در معادن دیده می‌شود. این مقاله با هدف بررسی وضعیت کنونی تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان، تحلیل چالش‌های موجود، مقایسه با معیارهای جهانی و ارائه راهکارهای عملی برای بهبود شرایط تهویه تدوین شده است. نتایج تحقیق نشان می‌دهد که با ایجاد سیستم‌های معیاری تهویه، آموزش تخصصی کارگران، نظارت فنی و استفاده از تجهیزات معیاری، میزان خطرات کاری تا حد زیادی کاهش یافته و کیفیت استخراج ارتقا می‌یابد.

در طراحی شبکه تهویه سعی بر آن است که در تمام نقاط معدن هوای کافی جریان داشته باشد اما به هرحال نتایج واقعی با آنچه که در مرحله طراحی پیشبینی شده تا حدودی متفاوت است. و به همین خاطر پس از اجرای برنامه طراحی شده باید وضعیت تهویه معدن را بررسی و کنترول کرد و در موارد لزوم مشکلات را بر طرف کرد. مدل سازی دینامیک سیالات محاسباتی یک روش سریع، دقیق، کم هزینه و قابل اعتماد برای بررسی رفتار یک سیال است که برای بررسی سیستم تهویه از آن استفاده شده است. در این مطالعه پس از بررسی دقیق سیستم تهویه معدن زغال سنگ رزم‌جا غربی بخشی از سیستم تهویه برای مدل سازی انتخاب شده است. بخش انتخاب شده به سه مدل تقسیم شد که شامل مدل مسیر جریان هوا تا کارگاه استخراج، مدل تهویه کمکی و مدل کارگاه استخراج است.

پس از تهیه مدل دینامیک سیالات محاسباتی مناطق مورد نظر به کمک معیارهای شناسایی نواحی مرده، بررسی خطر انفجار، شناسایی نواحی مستعد خود سوزی زغال سنگ، شناسایی مناطق هدر رفت هوای تازه و بررسی کیفیت هوای تازه به بررسی وضعیت حاکم بر سیستم تهویه پرداخته شده است. نتایج حاصل شده نشان می‌دهند که در مسیر حرکت هوا به سمت کارگاه استخراج به دلیل خراب بودن در تهویه(۵۲) درصد هوا به سمت خروجی هوای کثیف هدایت می‌شود. همچنین در بخش‌های از مسیر، سرعت هوا از حد مجاز پایین تر بوده که راه حل برای حل مشکلات ارائه شده است. در بررسی مدل تهویه کمکی مشخص شد که با توجه به اینکه سرعت هوا از حد مجاز کمتر نیست ولی نتوانسته کیفیت لازم هوا را تأمین کند و عیار گاز میتان در محل(چهار) برابر حد مجاز است. همچنین باز چرخش هوا در نزدیکی سینه کار شناسایی شد. بررسی مدل کارگاه استخراج نشان داد که شرایط حاکم در کارگاه استخراج به لحاظ تهویه‌های مناسب کار است ولی در بخش تخریب شده از نقطه نظر تهویه‌ها بخش میانی برای خودسوزی مستعد است.

**واژه های کلیدی: تهویه معادن، ایمنی، گازهای مضره، گرد و غبار، آکسیجن، تجهیزات معیاری، معادن زیرزمینی.**

## مقدمه

معادن زیرزمینی افغانستان یکی از بخش‌های کلیدی و استراتژیک اقتصاد ملک به شمار می‌روند و دارای منابع قابل توجهی از زغال سنگ، فلزات پایه و قیمتی، سنگ‌های صنعتی و سایر مواد معدنی ارزشمند می‌باشند. بهره برداری بهینه از این منابع نیازمند نیروی انسانی متخصص، تجهیزات مدرن و رعایت معیارهای جهانی در زمینه‌های مختلف استخراج و ایمنی است. با این حال، بخش معادن زیرزمینی ملک با چالش‌های جدی از جمله نبود سیستم‌های علمی و معیاری تهویه مواجه است که این مسئله نه تنها سلامت و ایمنی کارگران را تهدید می‌کند، بلکه بر بهره‌وری و کیفیت عملیات معدنی نیز تأثیر منفی دارد.

پیشرفت‌های که در علوم معدنکاری به وجود آمده است انسان را قادر ساخته تا فضاهای بزرگ را به راحتی در اعماق زمین ایجاد کند. واضح است که چنین فضاهای نیاز به یک سیستم تهویه مناسب دارند. برای طراحان سیستم‌های تهویه فضاهای بزرگ زیرزمینی استفاده از ابزاری دقیق جهت طراحی و بررسی سیستم تهویه ضروری است. برای بررسی سیستم تهویه تونل‌های معادن زیرزمینی می‌توان از بررسی‌های تجربی، ساخت مدل فیزیکی و مدل سازی عددی استفاده کرد. از میان روش‌های مطرح شده نتایج مربوط به روش تجربی قابل اعتمادتر و کاربردی تر است. در واقع شرایط عملیاتی حاکم بر سیستم تهویه به طور دقیق دراختیار کاربر قرار می گیرد. این روش احتیاج به صرف زمان، هزینه زیاد و تجهیزات دقیق و گران قیمت دارد. مدل سازی فیزیکی نیز نیاز به دقت فراوان و صرف زمان زیادی دارد. در مقابل استفاده ازمدل سازی عددی موجب صرفه جویی در زمان و هزینه شده و به راحتی می‌تواند شرایط واقعی را شبیه سازی کند(Chin Ding Ang).,۲۰۱٦ در بسیاری از معادن مملکت، تهویه به صورت ابتدایی، تجربی و در برخی موارد کاملاً ناکافی انجام می‌شود که خطرات جدی برای کارگران و روند استخراج ایجاد می‌کند. این مقاله به بررسی این مشکلات و ارائه راهکارهای کاربردی و تخصصی برای بهبود تهویه معادن افغانستان می‌پردازد.

تهویه معادن زیرزمینی، یکی از اصلی ترین عناصر مدیریت ایمنی و عملکرد مؤثر استخراج محسوب می‌شود. عملکرد صحیح سیستم تهویه به تأمین آکسیجن کافی، دفع گازهای سمی و قابل انفجار، کاهش گرد، غبار و ذرات معلق در هوا، کنترول دما و رطوبت محیط و جلوگیری از انفجارات ناشی از گازهای قابل اشتغال کمک می‌کند. به همین دلیل، فقدان سیستم‌های معیاری تهویه در بسیاری از معادن مملکت موجب افزایش خطرات محیطی و انسانی شده و به طور مستقیم بر کارایی عملیات استخراج تأثیرگذار است.

با توجه به اهمیت امنیت، سلامت و بهره وری در عملیات معدنکاری، تدوین و اجرای برنامه‌های علمی، معیاری و عملیاتی در زمینه تهویه ضروری است. این مقاله با هدف ارائه یک بررسی جامع از وضعیت تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان، شناسایی چالش‌ها و مشکلات موجود، تحلیل کمبودها نسبت به معیارهای جهانی و ارائه راهکارهای علمی و عملی برای بهبود سیستم‌های تهویه نگارش شده است. انتظار می‌رود نتایج حاصل از این مطالعه، زمینه ساز طراحی سیستم‌های تهویه بهینه، ارتقای مهارت‌های فنی کارگران و مدیران، و افزایش ایمنی و بهره وری در معادن مملکت گردد.

**تعریف مسئله**

با توجه به اهمیت سیستم تهویه در ایمنی معدن، سلامت کارکنان و ارتقاء بازدهی تولید اجرای یک سیستم تهویه پیشرفته و مدرن در معادن ضرورت پیدا می کند. از طرفی گستردگی شبکه تهویه و تغییرات به وجود آمده در شبکه سیستم تهویه به دلیل پیشروی‌های صورت گرفته و عوامل متعدد دیگر می‌توانند مانع از دستیابی به اطلاعات کاملی از شرایط حاکم بر سیستم تهویه شوند. با توجه به موارد بیان شده این سوال پیش می‌آید که چگونه می‌توان به سوالات زیر پاسخ داد:

۱ ـ چگونگی توزیع هوای تازه و سایر گازهای موجود در محیط معدن در زمان‌های مختلف چگونه است؟

۲ ـ سرعت هوا در قسمت های مختلف (راهروها، کارگاه‌ها، و ... ) در شرایط مختلف تهویه‌های (زمان حادثه یا شرایط عادی) چگونه است؟

۳ ـ توزیع حرارت در بخش‌های مختلف چگونه است؟

۴ ـ آیا می‌توان تغییرات به وجود آمده در مقادیر سرعت هوای بخش‌های مختلف سیستم تهویه را درصورت گسترش شبکه تهویه پیشبینی کرد؟

در سوالات مطرح شده بهترین راه حل برای رسیدن به جواب استفاده از علم دینامیک سیالات است.

به طور کلی روش‌های پیشگویی یک پدیده فیزیکی به دو قسمت عمده تقسیم می‌شود:

- ✓ روش تجربی(آزمایشگاهی).
- ✓ روش نظری.

در روش‌های نظری ابتدا با مشاهده پدیده فیزیکی به بیان معادله‌های دیفرانسیل مربوط پرداخته وپس از آن به معادله‌های جبری حاکم بر مسئله پرداخته می‌شود. مشکلی که وجود دارد این است که برخلاف پدیده‌هایی که برای آنها مدل ریاضی مناسب ارائه شده اند پدیده های نیز وجود دارند که هنوز مدل ریاضی مناسبی برای آنها پیدا نشده است. در اینجاست که استفاده از روش‌های عددی به عنوان یک راه سوم برای حل مسائل و جریان سیال جای خود را باز می‌کند. بنابر این در یک تقسیم بندی دیگر می‌توان دینامیک سیالات را به سه **بخش تقسیم کرد:**

۱ ـ دینامیك سیالات تجربی.

۲ ـ دینامیک سیالات تئوری.

۳ ـ دینامیک سیالات محاسباتی.

دینامیک سیالات محاسباتی(CFD) به معنای به کارگیری کمپیوتر در حل مسئله‌های که هدف آن بررسی خواص جریان یک سیال است، به طوری که جریان این سیال ممکن است با انتقال حرارت و واکنش‌های شیمیایی همراه باشد(شجاع یفرد و نورپور، ۱۳۷۹). در واقع مدل(CFD) این قابلیت را دارد که ویژگی‌های جریان را که در مقاطع دلخواه در اختیار محقق قرار دهد. همچنین می‌توان از این مدل برای پیشبینی شرایط حاکم بر سیستم تهویه در صورت اعمال برخی تغییرات استفاده کرد.

**مبانی نظری**

تهویه معادن یکی از اصول بنیادین و با قدمت طولانی در صنعت استخراج به شمار می‌رود و نقش حیاتی در تضمین ایمنی، سلامت کارکنان و بهره‌وری عملیات معدنکاری دارد. اهمیت تهویه به حدی است که معیارها و دستورالعمل‌های جهانی متعددی، از جمله معیارهای(Mine Safety and Health Administration) ، بر رعایت اصول علمی و فنی تهویه تأکید ویژه نموده اند.

مطالعات و گزارش‌های جهانی حاکی از آن است که تهویه ناکافی یا غیرعلمی در معادن زیرزمینی، یکی از عوامل اصلی وقوع حوادث مرگ بار است. بر اساس داده های آماری، در مملکت‌های در حال توسعه بیش از(۳۰) درصد حوادث معادن به طور مستقیم یا غیرمستقیم ناشی از ضعف در سیستم‌های تهویه می‌باشد. این ضعف‌ها شامل مواردی نظیر تجمع گازهای سمی و انفجاری، افزایش گرد و غبار، کمبود آکسیجن، کنترول ناکافی دما و رطوبت محیط معدن می‌شود.

با توجه به این مسائل، اجرای سیستم‌های تهویه علمی، معیاری و پایدار نه تنها به کاهش حوادث و افزایش ایمنی کارکنان کمک می کند، بلکه باعث بهبود بهره وری عملیاتی، طول عمر تجهیزات و کیفیت استخراج نیز می‌شود. در نتیجه، مطالعه و پیاده سازی معیارهای جهانی تهویه، آموزش تخصصی نیروی انسانی و نظارت مستمر، از جمله الزامات حیاتی برای توسعه پایدار و مدیریت ایمن معادن به شمار می‌رود.

**۱ ـ ضرورت تطبیق اصول فنی و معیارهای جهانی تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان**

با توجه به ساختار پیچیده معادن افغانستان، رعایت اصول جهانی تهویه همچون: جریان دهی مداوم هوا، کنترول گازهای قابل انفجار، حذف گرد، غبار، دود مواد انفجاری، تنظیم فشار و سرعت هوا، محاسبه حداقل آکسیجن قابل قبول از اهمیت خاص برخوردار است.

**۲ ـ وضعیت تهویه معادن زیرزمینی افغانستان**

بر اساس بررسی‌ها، معادن افغانستان با مشکلات ذیل مواجه اند: عدم وجود سیستم معیاری تهویه، نبود تجهیزات فنی، کمبود متخصصین تهویه، افزایش گازهای انفجاری، نبود سیستم نظارتی.

**۳ ـ تهویه مؤثر باید اهداف ذیل را برآورده سازد**

۱ ـ تأمین آکسیجن کافی.
۲ ـ دفع گازهای مضره.
۳ ـ کنترول گرد و غبار.
۴ ـ تنظیم دما و رطوبت.
۵ ـ کنترول جریان و فشار هوا.

**وضعیت تهویه معادن زیرزمینی افغانستان**

**بر اساس بررسی‌ها، معادن افغانستان با مشکلات ذیل مواجه اند**

۱ ـ عدم وجود سیستم معیاری تهویه.
۲ ـ نبود تجهیزات فنی.
۳ ـ کمبود متخصصین تهویه.
۴ ـ افزایش گازهای انفجاری.
۵ ـ نبود سیستم نظارتی.

## روش تحقیق

این تحقیق با هدف ارزیابی وضعیت کنونی سیستم‌های تهویه در معادن زیرزمینی افغانستان و ارائه راهکارهای علمی و عملی برای بهبود ایمنی و مدیریت جریان هوا، با استفاده از رویکرد توصیفی- تحلیلی انجام شده است. روش تحقیق به گونه طراحی شده که بتواند تصویر واقعی و مبتنی بر شواهد از شرایط فعلی تهویه در معادن کشور ارائه نماید.

## نوع و رویکرد تحقیق

این مطالعه از نوع کاربردی(Applied Research) بوده و رویکرد آن توصیفی- تحلیلی(Descriptive–Analytical) است.

در بخش توصیفی، وضعیت فعلی تهویه در معادن زیرزمینی بررسی می‌گردد و در بخش تحلیلی، داده‌ها با معیارهای جهانی مقایسه و تحلیل می‌شوند.

## جامعه و نمونه تحقیق

جامعه تحقیق شامل تمامی معادن زیرزمینی فعال افغانستان است. با توجه به تنوع جغرافیایی و نوع مواد معدنی، نمونه‌گیری به صورت های گردآوری داده‌ها.

برای جمع‌آوری داده‌ها از ترکیب روش‌های کتاب خانهٔ، مقالات علمی و سایت‌های انترنتی معتبر  استفاده شده است:

### الف) بررسی اسناد و گزارش‌ها

- گزارش‌های وزارت معادن و پترولیم.
- رهنمودهای ایمنی معادن.

## پیشینه تحقیق

تهویه معادن زیرزمینی یکی از بنیادی ترین عناصر ایمنی و بهره برداری در صنعت استخراج به شمار می‌رود و از آغاز شکل گیری فعالیت های معدنی همواره مورد توجه متخصصان این حوزه بوده است. بررسی ادبیات علمی جهانی نشان می‌دهد که چالش‌های مرتبط با گازهای مضره، کمبود آکسیجن، گرد و غبار و خطر انفجارات گازی از قرن نوزدهم تا امروز در مرکز تحقیقات تهویه قرار داشته است. پژوهش‌های معتبر در ایالات متحده، کانادا، چین و استرالیا معیارهای همچون(MSHA، OSHA، NFPA و ICMM)را توسعه داده اند که اکنون به عنوان مرجع اساسی برای طراحی، بهره‌برداری و کنترول سیستم‌های تهویه مورد استفاده قرار می‌گیرند.

در مطالعات جهانی نشان داده شده است که بیش از(۳۰) درصد حوادث مرگ بار معادن در مملکت‌های در حال توسعه ناشی از تهویه ناکافی، ضعف در مدیریت جریان هوا و عدم تطبیق با معیارهای فنی بوده است. تحقیقات انجام شده در بخش زغال سنگ، معادن فلزی و معادن چند منظوره نیز تأکید می‌کنند که نبود سیستم‌های پایدار تهویه موجب تجمع گازهای قابل انفجار مانند میتان($CH_4$) ، افزایش دمای محیط کار، ایجاد شرایط تنفسی خطرناک و افزایش بیماری‌های ریوی در میان کارگران می‌شود.

در افغانستان، با وجود سابقه طولانی معدنکاری در ولایات مانند سمنگان، بغلان، غور، بدخشان و هرات، تحقیقات علمی سیستماتیک در زمینه تهویه معادن محدود بوده و بیشتر گزارش‌ها جنبه توصیفی و میدانی داشته اند. بررسی‌های انجام شده توسط وزارت معادن و پترولیم، همراه با چند مطالعه پوهنتونی، نشان می‌دهد که بسیاری از معادن زیرزمینی مملکت فاقد سیستم‌های معیاری تهویه، تجهیزات سنجش گاز، سیستم هشدار دهنده، برنامه‌های آموزشی ایمنی و مدیریت منظم هوا هستند. این تحقیقات همچنین بیان می‌کنند که استفاده از روش‌های سنتی مانند ایجاد چاهک‌های کوچک، پنکه‌های غیرصنعتی و جریان دهی طبیعی هوا، پاسخ‌گوی ساختار پیچیده معادن افغانستان نیست.

علم موجود در سطح منطقه و جهان، تأکید دارد که بهبود تهویه در معادن تنها با توسعه سیستم‌های فنی ممکن نبوده بلکه نیازمند چارچوب مدیریتی کارآمد، آموزش تخصصی کارگران، نظارت فنی منظم، تجهیزات معیار، و طراحی مبتنی بر محاسبات دقیق جریان هوا است. در نتیجه، خلأ پژوهشی افغانستان بیشتر در حوزه کاربرد معیارهای جهانی، تطبیق سیستم‌های تهویه صنعتی در معادن مقیاس کوچک و ارزیابی خطرات مرتبط با گازهای مضره، گرد و غبار قابل مشاهده است.

بنابر این، ضرورت انجام تحقیقات جامع، کاربردی و مبتنی بر نیازهای واقعی معادن افغانستان آشکار می‌شود؛ تحقیقات که با جمع‌آوری داده‌های میدانی، مقایسه با معیارهای جهانی و تحلیل وضعیت موجود، راهکارهای عملی و قابل اجرا را جهت بهبود ایمنی و مدیریت تهویه در معادن زیرزمینی مملکت ارائه دهد.

## تجزیه و تحلیل

نتایج بررسی‌ها نشان می‌دهد که:

- تهویه ناکافی عامل اصلی بسیاری از حوادث مرگ بار معادن مملکت است.
- نبود محاسبات دقیق تهویه، خطرات جدی برای کارگران ایجاد می‌کند.
- استفاده از فن‌های غیرمعیاری و سیستم‌های ابتدایی تهویه، خطر انفجارات گازی را افزایش می‌دهد.
- نظارت ضعیف و نبود دستورالعمل داخلی تهویه، میزان خطر را چندین برابر کرده است.

## پیشنهادات

۱ - ایجاد دستورالعمل داخلی تهویه.

۲ - نصب فین‌های معیاری.

۳ - ایجاد سیستم مانیتورینگ گازها.

۴ - آموزش تخصصی.

## آموزش کارگران و انجنیران در بخش‌های:

۱ - محاسبات تهویه.

۲ - مدیریت گازها.

۳ - کار با تجهیزات تهویه.

۴ - اندازگیری منظم هوا و گاز.

۵ - همکاری میان انستیتوت معادن و شرکت‌ها.

٦ - بهبود قوانین و نظارت.

## منابع و مآخذ

۱ ـ مدنی، حسن(۱۳٦۵)اصول پی جویی، اکتشاف و ارزیابی ذخایر معدنی انتشارات ایران ارشاد.

۲ ـ مدنی، حسن - عسکرزاده - سعید(۱۳۷۹) یک نرم افزار جدید برای تحلیل شبکه‌های قطری تهویه معادن سومین همایش ایمنی، بهداشت و محیط زیست در معادن – شاه‌رود.

۳ ـ ملکی، بیژن(۱۳٦۹) آنالیز شبکه‌های تهویه معدن به وسیله ریز کمپیوتر پایان‌نامه کارشناسی ارشد - پوهنتون صنعتی امیرکبیر(استاد راهنما: حسن مدنی).

۴ ـ وانگ، ای. جی(۱۹۹۰) حل شبکه‌های تهویه باشاخه‌هایش بتیابدون آن(مجله مهندسی معدن، دسامبر ۱۹۹۰) ترجمه: حسن مدنی(۱۳۷۰)انتشارات صنعت فولاد.

۵ ـ ویمین هو - یان لانکان(۱۹۹۰) بهینه سازی توزیع هوا در شبکه‌های تهویه با استفاده از روش برنامه ریزی غیر خطی: شهریار بهرامی اقدم مرکز انتشارات فولاد ـ ۱۳۷۰.

٦ ـ هوسکینگ، ر.ج.ـجویس، دبس - ترنر، ج.س.(۱۹۷۸) نخستین گام‌ها در آنالیز عددی ترجمه: اسماعیل بابلیان - میرکمال میرنیا(۱۳٦٦) انتشارات مرکز نشر پوهنتون.

۷ ـ - یوسفی، محمد - مؤیدزاده، حسین(۱۳۷۱) مدل کمپیوتری طراحی شبکه‌های تهویه معادن پایان‌نامه کارشناسی - پوهنتون آزاد اسلامی - واحد جنوب تهران(استاد راهنما: حسن مدنی).

8- Yun, Q.X. - Huang, K.M. (2000)Determination of Ventilation System for Mines by Genetic AlgoritmEnvironmental Issues and Management of Waste in Energy and MineralProduction.

9- Zhujun, XU -- Yingmin, Wang (1991)

Study on Optimum Mine Ventilation Networks Using Nonlinear Programing Techniques Proceedings of 5th Mine Ventilation Symposium.

10- Aziz, N I, Baafi, E, Hewitt, A, Srinivasa Rao, B, 1993, Respirable Dust Concentration and Air Velocity Profiles in Longwall Faces, The Australian Coal Journal, No.40, pp 19-24.

11- C. Kurnia, J., P. Sasmito, A., & S. Mujumdar, A. (2014). CFD simulation of methane dispersion and innovative methane management in underground mining faces. Applied Mathematical Modelling.

12- Calautit, J., & Hughes, B. (2014). Wind tunnel and CFD study of the natural.





# کانونه بیت المال دي

## د کانونو په قراردادونو کې روڼتیا،عدالت او د عامه داوطلبۍ ارزښت

ح م معراج محمد "معراج"
د کانونو او پټرولیم وزارت د دفتر عمومي رئیس

**سریزه**

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا [۱] ژباړه: بیشکه الله تعالی امر کوي په تاسې(اې مؤمنانو!) د دې چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د اماناتو ته[۲].

حدیث شریف: «ألا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُم مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ »[۳] یعنې: «خبردار اوسئ! تاسو ټول ساتونکي(مسوولین) یاست او له تاسو څخه هر یو به د خپل تر لاس لاندې کسانو په اړه پوښتل کیږي.

کاني سرچینې د هر ملک له مهمو داخلي شتمنیو څخه شمېرل کیږي، چې سم اغېزمن او قانونمند مدیریت یې کولای شي د اقتصادي ودې، تولنیز ثبات او تلپاتې پرمختګ بنسټونه پیاوړي کړي. په ځانګړي ډول، که کانونه همداسې په شفاف، عادلانه او مسلکي ډول اداره شي، د دولت لپاره د عوایدو یوه مهمه او تلپاتې سرچینه ګرځي، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو سبب کیږي او د زیربناوو د پراختیا په برخه کې رغنده او بنسټیز رول لوبوي. له همدې امله، د کانونو د کیندنې او مدیریت څرنګوالی نه یوازې اقتصادي، بلکې سیاسي، تولنیز او چاپیریالي اغېزې هم لري او د داخلي ګټو له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي.

په همدې اساس کله چې د تړونونو د ورکړې پر مهال شخصي اړیکو او سیاسي نفوذ ته لومړیتوب ورکړل شي، بې‌انصافي وشي او یا هم ازاده داوطلبۍ عملي نه شي، نو دا کړنه د روڼتیا او عدالت اصل تر جدي پوښتنې لاندې راولي. دغه ډول چلند د دولت پر اعتبار منفي اغېزې کوي، د داخلي عوایدو د ضایع کېدو سبب ګرځي او د اداري فساد د پراخېدو زمینه برابروي. سربېره پر دې، که تړونونه ناعادلانه وي کانونه غیر مسلکي او کم تجربه شرکتونو ته وسپارل شي، نه یوازې دا چې اقتصادي ګټه نه رسوي، بلکې د چاپېریال د تخریب، د طبیعي سرچینو د غیر معیاري او ناسم استخراج او د ځایي ټولنو د حقونو د تر پښو لاندې کېدو لامل هم ګرځي، چې دا ټول د اوږدمهاله زیانونو سبب کېږي.

د عامه داوطلبۍ نشتوالی سالم رقابت له منځه وړي او بازار له خپل طبیعي توازن څخه باسي. د دې حالت په پایله کې د پانګونې مخه نیول کېږي، نوې ټکنالوژۍ ملک ته نه راځي او د کانونو برخه له فني او اقتصادي پلوه وروسته پاتې کېږي. سربېره پر دې، ولس پر حکومت خپل باور له لاسه ورکوي او دا احساس پیاوړی کېږي، چې چارې په عادلانه او قانونمند ډول نه ترسره کېږي، چې په پایله کې یې د داخلي حاکمیت بنسټونه کمزوري کېږي. له همدې امله، د کاني تړونونو په بهیر کې روڼتیا، حساب ورکونه او قانونمندۍ ته ژمنتیا حیاتي او نه بدلېدونکی ارزښت لري.

په دې مقاله کې هڅه شوې ده، چې د تړونونو د ورکړې پر مهال ځانګړو کسانو ته د ترجیح ورکولو، بې انصافۍ او د عامه داوطلبۍ د نه پلي کېدو منفي اقتصادي، ټولنیز او چاپېریالي زیانونه په لنډه توګه وڅېړل شي. همدارنګه، د دغو ستونزو د مخنیوي لپاره عملي، حقوقي او اداري لارې چارې وړاندې شي، ترڅو د ملک له کاني شتمنیو څخه د تلپاتې، عادلانه او شفافې ګټې اخیستنې زمینه برابره شي او داخلي ګټې په سم ډول خوندي شي.

**د ترجیح ورکولو، بې انصافۍ او د عامه داوطلبۍ د نه پلي کېدو زیانونه**

داسې عمل د قران او حدیثو له نظره منع ده الله تعالی فرمایلي:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ[۴] ژباړه: بیشکه الله تعالی امر (حکم) کوي په عدل (انصاف کولو) سره او په احسان (نیکي کولو) سره [۵].

وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ[۶] ژباړه: او کله چې حکم کوئ تاسې (اې قاضیانو! اې حاکمانو!) په منځ د خلکو کې نو (امر کوی الله تعالی چې) حکم وکړئ په انصاف سره![۷].

**حدیث:** «اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۸] ترجمه: له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه ظلم د قیامت په ورځ تیارې دي (یعني د ګنو تیارو سبب دی)

همدارااز دا کار لاندې دنیاوي ستونزې هم لري

**۱ ـ د دولت د عوایدو کمېدل**

کله چې کاني تړونونه د عادلانه او ازادې داوطلبۍ له لارې ورنکړل شي، دولت له دې مهم فرصت څخه بې برخې کېږي، ترڅو هغه شرکت انتخاب کړي، چې غوره مالي وړاندیز، مناسب فني شرایط او لوړ عواید وړاندې کوي. په پایله کې، داخلي عواید راکمېږي او د دولت اقتصادي ګټې زیانمنې کېږي.

**۲ ـ د اداري فساد پراخېدل**

ترجیح ورکول اکثره د شخصي اړیکو، واسطو او سیاسي فشارونو پایله وي. دا ډول کړنې په مستقیم ډول د رشوت، اختلاس او اداري فساد لپاره زمینه برابروي او د قانون حاکمیت کمزوری کوي، چې د دولتي نظام پر اعتبار ناوړه اغېزې لري.

**۳ ـ د خلکو د باور له منځه تلل**

کله چې ولس ویني چې یو کان یا ستره پروژه په ناعادلانه او غیر شفاف ډول یو ځانګړي شخص یا شرکت ته سپارل شوې ده، نو د دولت پر عدالت، صداقت او حساب ورکونې باور له منځه ځي، چې دا حالت د ولس او دولت ترمنځ فاصله زیاتوي.

**۴ ـ د ناسم فني شرکت انتخاب**

په رقابتي عامه داوطلبۍ کې عموماً مسلکي، باتجربه او وړ شرکتونه برخه اخلي. خو که داوطلبۍ ترسره نه شي، امکان لري ترون هغه شرکت ته ورکړل شي، چې کافي تجربه ونه لري، فني وړتیا یې کمه وي او یا هم لازم مالي توان ونه لري، چې دا چاره د پروژو د ناکامۍ لامل ګرځي.

**۵ ـ د چاپېریال لپاره جدي خطرونه**

کمزورې او غیر مسلکي شرکتونه ډېرې وخت د چاپېریال ساتنې قوانین او معیارونه نه مراعاتوي. د دې پایله د ځنګلونو له منځه تګ، د اوبو او کرنیزو ځمکو ککړېدل، د هوا خرابېدل او د سیمې د خلکو د ژوند د کیفیت ټیټېدل دي، چې دا ټول اوږدمهاله او نه جبرانېدونکي زیانونه رامنځته کوي.

**۶ ـ سیمه‌ییزې او قومي شخړې**

په کاني سیمو کې بې عدالتي د قومي او سیمه‌ییزو اختلافاتو د راولاړېدو لامل کېږي. دا وضعیت د امنیتي خطرونو زیاتېدو، د پروژو د ځنډېدو یا بندېدو او د دولت پر وړاندې د نفرت او مخالفت د پراخېدو سبب ګرځي.

**۷ ـ د نړیوالو پانګوالو د باور له منځه تلل**

نړیوال پانګوال عدالت، رونتیا او سالم رقابت د پانګونې اساسي شرطونه ګڼي. که هغوی ووینې چې ترونونه له ازادې عامه داوطلبۍ پرته ورکول کېږي، نو له پانګونې ډډه کوي او په پایله کې ملک د نړیوال اقتصادي سیستم له بهیر څخه شاته پاتې کېږي.

**څنګه کولای شو د دغو ستونزو مخه ونیسو؟**

د دغو ستونزو د مخنیوي لپاره اړینه ده چې لاندې شرایط پلي کړو.

**۱ ـ د اجباري عامه داوطلبۍ پلي کول (Open Tender)**

ټول کاني ترونونه باید د ازادې داوطلبۍ له لارې ورکړل شي. د داوطلبۍ اعلان باید په پراخه کچه او د ټولو لپاره د لاسرسي وړ وي، ترڅو د ګډون برابر فرصت رامنځته شي. د اعلان مناسبې سرچینې په لاندې ډول دي:

- رسمي دولتي ویبپاڼې.
- داخلي او سیمه‌ییزې ورځپاڼې.
- راډیو او تلویزیوني شبکې.
- د داخلي تدارکاتو برېښنایي سیستم.

دغه چاره د سالم رقابت د رامنځته کېدو، د غوره شرکت د انتخاب او د دولت د اقتصادي ګټو د خوندي کېدو تضمین کوي.

**۲ ـ د ارزونې لپاره د روښانه معیارونو ټاکل**

د داوطلبۍ له پیل مخکې باید د ارزونې ټول معیارونه په واضح، لیکلي او علني ډول اعلان شي، ترڅو د شخصي سلیقې مخه ونیول شي. دغه معیارونه باید لږ تر لږه لاندې برخې ولري:

– فني وړتیا او مسلکي ظرفیت.
– مالي توان او ثبات.
– د چاپېریال د مدیریت او ساتنې‌پلان.
– د شرکت پخوانۍ کاري تجربه.
– د دولت لپاره اقتصادي ګټه او عایدات.

د معیارونو روڼوالی شخصي اړیکې، واسطې او غیرقانوني ترجیحات له منځه وړي او د عدالت اصل پیاوړی کوي.

**۳ ـ د روڼتیا د پیاوړتیا عملي لارې چارې**

د روڼتا د پیاوړتیا لپاره لازمه ده چې په لاندې لارښوونو عمل وشي.

قَالَ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ(۹) ژباړه: بیشکه چې غوره د هر هغه چا چې مزدور یې نیسی هغه څوک دی چې قوتناک او امانتګر وی(۱۰).

**حدیث:** «إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ»(۱۱) یعني: کله چې امانت ضایع کړلای شو نو د قیامت انتظار کوه.

روڼتیا د عامه باور او حساب ورکونې بنسټ دی. د دې اصل د ټینګښت لپاره لاندې اقدامات خورا اغېزمن تماميږي:

– د داوطلبۍ او ارزونې راپورونه په رسمي ویب‌پاڼو کې خپرول.
– د تړون بشپړ متن او مهم شرایط له عامو خلکو سره شریکول.
– د څارنې بنسټونو، رسنیو او اړوندو ادارو ته د معلوماتو د لاسرسي اسانتیا برابرول.

دغه ګامونه د فساد د مخنیوي، د ولسي باور د زیاتوالي او د دولتي پرېکړو د مشروعیت د ټینګښت سبب ګرځي.

**۱ ـ موخه (Purpose)**

د دې لیکنې موخه دا ده، چې د کانونو تړونونه د روڼتیا، سالم رقابت، عدالت او د نافذه قوانینو له مخې تنظیم او ورکړل شي، ترڅو لاندې اساسي موخې ترلاسه شي.

– د اداري فساد، کمېشن کارۍ او غیررسمي معاملو مخنیوی وشي.
– د دولت عواید لوړ او د داخلي شتمنیو اغېزمن مدیریت تضمین شي.
– له فني او مالي پلوه وړ، مسلکي او باوري شرکتونه وټاکل شي.
– د عامو خلکو باور پر دولتي ادارو پیاوړی شي.
– د چاپېریال ساتنې او د طبیعي سرچینو تلپاتې ګټې اخیستنې یقیني شي.
– هر ډول ترجیح، استثنا او غیرقانوني لاسوهنه پای ته ورسیږي.
– عدالت او انصاف ټینګ شي او د قانون حاکمیت عملي بڼه خپله کړي.
– شرکتونه او پانګوال پر داوطلبۍ باور ومومي.
– داوطلبۍ د کانونو د تړونونو د ترلاسه کولو یوازینۍ قانوني لاره وګرځي.

## ۲ ـ برخه‌وال (Stakeholders)

د لاندې ادارو، بنسټونو او اړوندو لوریو لپاره د پلي کېدو وړ ده.

- د ریاست‌الوزرا مقام / اقتصادي معاونیت.
- د کانونو او پټرولیم وزارت.
- د ملي تدارکاتو اداره.
- د چارو اداره.
- د چاپېریال ساتنې ملي اداره.
- د مالیې وزارت.
- سیمه‌ییزې ادارې.
- خصوصي شرکتونه او پانګوال.

## ۳ ـ تعریفونه (Definitions)

**داوطلبی**

هغه رقابتي او قانوني بهیر دی چې د نافذه قوانینو له مخې د وړ شرکتونو ترمنځ د تړون د ورکړې لپاره ترسره کېږي.

**فني وړتیا**

د شرکت مسلکي تجربه، فني ظرفیت، مسلکي انجینران، وسایل، ماشینري او اړوند فني امکانات.

**مالي وړتیا**

د شرکت مالي توان، پانګه، مالي ثبات، بانکي تضمینونه، بانک سټېټمنټونه او نور معتبر مالي اسناد.

## ۴ ـ بنسټیز اصول (Core Principles)

د دې کړنلارې پلي کېدل په لاندې بنسټیزو اصولو ولاړې دي

- روڼتیا.
- سالم رقابت.
- عدالت او انصاف.
- مسوولیت منل.
- قانونیت.
- د عامه خلکو او داخلي ګټو ساتنه.

## ۵ ـ د بهیر مرحلې (Process Stages)

د بهیر لاندېنۍ مرحلې باید پلي شي

**د کان اعلان**

د کانونو اعلان باید په پراخه کچه او د ټولو لپاره د لاسرسي وړ خپور شي، لکه څنګه چې د(مسلکي او عملي حل لارې) تر عنوان لاندې تشریح شوی.

**د اعلان محتوا**

د اعلان متن باید په څرګند او دقیق ډول لاندې معلومات ولري.

- د کان دقیق موقعیت.
- د کان ډول(سره زر ، سکاره، لیتیم او نور).
- د کان د سیمې اندازه.
- د تړون موده.
- حقوقي او مالي شرایط.
- د ګډون او داوطلبۍ معیارونه.

**د داوطلبۍ اسناد**

د داوطلبۍ د شفاف او معیاري ترسره کېدو لپاره اړینه ده چې د ګډونوالو شرکتونو لپاره لاندې اساسي اسناد چمتو او په واک کې ورکړل شي:

- د داوطلبۍ بشپړه دوسیه (Tender Dossier).
- د کان تفصیلي جیولوجیکي راپور .
- فني شرایط او د استخراج معیارونه.
- د چاپېریال ساتنې اړوند غوښتنې.
- مالي شرایط او د تړون اقتصادي چوکاټ.
- د بانکي تضمین اندازه او شرایط.
- د امتیاز ورکولو او ارزونې ښکاره معیارونه.

دغه اسناد باید په ښکاره، له ابهام پرته ترتیب شي، ترڅو ټول ګډونوال شرکتونه د مساوي معلوماتو پر بنسټ په داوطلبۍ کې برخه واخلي.

**د شرکتونو ثبتول**

هر ګډونوال شرکت اړ دی، چې د داوطلبۍ په بهیر کې د ګډون لپاره لاندې اسناد په رسمي ډول وسپاري.

- د شرکت د قانوني ثبت اسناد.
- د مالیې وزارت تصدیق او د مالیاتي مکلفیتونو اسناد.
- بانکي سټېټمنټ او د مالي ثبات ثبوت.
- د پخوانیو ورته پروژو د اجرا تجربوي اسناد.
- د مسلکي انجینرانو او فني پرسونل لیسټ.
- د ماشینرۍ، تجهیزاتو او فني امکاناتو معلومات.

- اړین امنیتي او بانکي تضمینونه.

د یادو اسنادو ارزونه باید د قانون او ټاکل شوو معیارونو له مخې ترسره شي، ترڅو یوازې وړ شرکتونه د داوطلبۍ بل پړاو ته لار ومومي.

**۶ ـ د داوطلبۍ بهیر ثبتول او څارنه**

**د روڼتیا او حساب ورکونې د تضمین لپاره اړینه ده چې:**

- د داوطلبۍ ټول بهیر په بشپړ ډول( په ویډیو او آډیو بڼه) ثبت شي.
- رسنیو ته دې د څار قانوني حق ورکړل شي.
- د بهیر اړوند اسناد او ثبتونه د اړتیا پر مهال د پلټنې لپاره موجود وي.

دغه اقدامات د هر ډول شک، نیوکې او احتمالي سرغړونو مخه نیسي.

**۷ ـ د څو ادارو ګډ کډون**

د کانونو د تړون منظوري باید یوازې د یوې ادارې لخوا ترسره نه شي، بلکې د ګډ تصمیم له لارې د اړوندو ادارو په ګډون تصویب شي لکه اقتصادي معاونیت، د کور او ښار جوړونې وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ښاروالۍ ریاست او د چاپیریال ساتنې اداره.

لکه چې الله تعالی لارښونه کوي:

وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ[الشورى: [۱۲]] ژباړه: او کار د دوی په مشورت(سره) وي په منځ د دوی کې[۱۳].

ګډ تصمیم د واک تمرکز له منځه وړي او د فساد او شخصي نفوذ احتمال کموي.

**۸ ـ د شکایتونو سیستم**

**د داوطلبۍ په بهیر کې د عدالت د ټینګښت لپاره:**

- شرکتونه حق لري، چې د بې‌عدالتۍ، یا سرغړونې په صورت کې شکایت ثبت کړي.
- شکایتونه باید په ټاکلي وخت او د ځانګړې هیئت لخوا وڅېړل شي.
- د څېړنې پایله باید په روڼتیا سره اعلان شي.

دغه سیستم د داوطلبۍ پر بهیر د باور فضا پیاوړې کوي.

**۹ ـ د کارکوونکو روزنه**

**د داوطلبۍ د سالم پلی کېدو لپاره اړینه ده چې:**

- دولتي کارکوونکي د داوطلبۍ قانون، مسلکي اخلاقو او د روڼتیا اصولو په برخه کې وروزل شي.
- غیر رقابتي او غیر قانوني تړون ورکول د قانون خلاف عمل وپېژندل شي او مخه یې ونیول شي.

مسلکي روزنه د سیستم د تلپاتې سمونې بنسټ جوړوي.

**۱۰ ـ سختې قانوني جزاګانې**

د قانون څخه د سرغړونې په صورت کې باید د سرغړونې مطابق لاندې قانوني اقدامات په جدي ډول عملي شي.

- د تړون لغوه کول.
- د جزايي قضيو پرانيستل.
- د مسوولو کارکوونکو له دندو ګوښه کول.

د دغو جزاګانو پلي کېدل د قانون حاکميت ټينګوي او نور کسان له ورته فساد څخه منع کوي.

**۱ ـ ولې د داوطلبۍ بهير ضروري ده؟**

د منرالونو قانون، د تدارکاتو قانون او د روڼتيا اړوند نافذه مقررات په څرګند ډول حکم کوي، چې د کانونو اړوند تړونونه بايد د داوطلبۍ له لارې ورکړل شي. له داوطلبۍ پرته د تړون سپارل د يادو قوانينو نقض بلل کېږي او اداره د جدي قانوني مسووليتونو، حقوقي خطرونو او احتمالي جزايي تعقيب سره مخ کوي.

داوطلبۍ د روڼتيا تضمين کوي او د هر ډول شک، نيوکې او ادعا مخه نيسي. که په راتلونکي کې د يوې پروژې په اړه پلټنه، شکايت يا حقوقي پوښتنه راپورته شي، شفافه داوطلبۍ د اداري لپاره منظم اسناد، قوي دفاع او پاکه دوسيه برابروي، چې له مخې يې د مشرتابه مسلکي اعتبار خوندي پاتې کېږي.

**۲ ـ د ارزونې روڼتيا او معياري ميکانيزم**

**د قيمتونو محرم ساتل**

تر هغه وخته چې د ارزونې بهير بشپړ شوی نه وي، د هېڅ ګډونوال شرکت قيمتونه بايد افشا نه شي. د دې اصل موخه د ترجيح، فشار، لاسوهنې او فساد مخنيوی دی، ترڅو ارزونه يوازې د مسلکي او ضروري معيارونو پر بنسټ ترسره شي.

**د ارزونې هيئت**

د ارزونې هيئت بايد له اړوندو ادارو څخه جوړ شي.

د کور او ښار جوړونې وزارت، د اطلاعات او کلتور وزارت، ښاروالۍ رياست او د چاپيريال ساتنې اداره.

د وروستۍ پرېکړې منظوري بايد د رياست‌الوزرا مقام، کابينې يا اقتصادي معاونيت له لوري ورکړل شي. هېڅ يو فرد بايد په يوازې ځان د تړون د منظورۍ صلاحيت ونه لري، ترڅو د فردي سليقې او غيرقانوني نفوذ مخه ونيول شي.

**فني ارزونه**

**د ارزونې هيئت اړ ده، چې د فني ارزونې پر مهال لاندې مواردو ته نمرې ورکړي**

- د شرکت اړونده تجربه.
- ماشينري اوفني تجهيزات.
- مسلکي انجينران او فنی ټيم.
- عملياتي پلان.

- د چاپېريال د مديريت پلان.
- د خطر د مديريت پلان.

هغه شرکت چې فني نمرې يې له ټاکلي حد څخه ټيټې وي، بايد د قانون له مخې ژر تر ژره له داوطلبۍ څخه لرې شي.

**مالي ارزونه**

**مالي ارزونه بايد د لاندې معيارونو پر بنسټ ترسره شي:**

- د دولت لپاره د عوايدو لوړ وړانديز.
- د رويالټي اندازه او شرايط.
- د پروسس او ارزښت زياتولو عملي پلان.
- د پانګوني مالي توان.
- د امنيت او تعهد لازم تضمينونه.

هغه شرکت چې په مالي برخه کې قوي وړتيا ولري او د دولت ګټې په ښه ډول تضمين کړي، بايد لوړې نمرې ترلاسه کړي.

**ګډه درجه بندي**

د فني او مالي ارزونې پايلې بايد په ګډه محاسبه شي، لکه.

- (۶۰) سلنه فني او (۴۰) سلنه مالي،

يا

- (۷۰) سلنه فني او (۳۰) سلنه مالي.

دا تناسب بايد د داوطلبۍ له پيل مخکې اعلان کې په ښکاره ډول ياد شي، ترڅو د داوطلبۍ د ټولو مرحلو ګډونوال د ارزونې له ميکانيزم څخه بشپړ خبر وي او د هر ډول ابهام مخه ونيول شي.

**۳ ـ د پايلو اعلان او د شکايتونو سيستم**

**د بريالي شرکت اعلان:**

د داوطلبۍ پايلې بايد د ادارې په رسمي ويبپاڼې او داخلي رسنيو کې په شفاف ډول اعلان شي. د اعلان په متن کې بايد لاندې معلومات په ښکاره ډول درج وي.

- د بريالي شرکت بشپړ نوم.
- د فني او مالي ارزونې ترلاسه شوې نمرې.
- د ارزونې د بهير لنډ، خو مفهومي راپور.

د پايلو عامول د روڼتيا د اصل د پلي کېدو تضمين کوي او د هر ډول شک او نيوکې مخه نيسي.

**د شکایتونو میکانیزم:**

هر ګډونوال شرکت حق لري، چې د پایلو له اعلان وروسته د(۷) کاري ورځو په موده کې خپل شکایت ثبت کړي.

شکایتونه باید د ځانګړې، مسلکي او بې طرفه څانګې له لوري وڅېړل شي او د څېړنې وروستۍ پایله باید د(۱۴) کاري ورځو په ترڅ کې په رسمي ډول اعلان شي.

دا میکانیزم د عدالت د تأمین او د ګډونوالو د حقونو د خوندي کېدو لپاره اړین بلل کېږي.

**۴ ـ د تړون لاسلیک او د پلي کېدو څارنه**

تړون باید د اړخونو د قانوني استازو په حضور کې، د نافذه قوانینو له مخې لاسلیک شي.

د تړون متن، د محرمو او امنیتي برخو پرته باید عام شي، ترڅو عامه پوهاوی او روڼتیا تضمین شي.

**د کار څارنه او راپور ورکونه**

د کان د فعالیت تلپاتې څارنه باید د اړوندو مسوولینو لخوا ترسره شي.

د پلي کېدو راپورونه باید میاشتني او ربعوار ترتیب او وړاندې شي او وروستی منظوري یې د ریاست‌الوزرا مقام له لوري ورکړل شي. دا چاره د قانوني اطاعت او د تړون د سم پلي کېدو تضمین کوي.

**۵ ـ د سرغړونو په صورت کې جزایي مقررات**

که چیرې تړون کونکې شرکت د چاپېریال ساتنې قوانین تر پښو لاندې کړي، کارونه پر وخت ترسره نه کړي، یا غیرقانوني استخراج ته لاس واچوي، نو د سرغړونې د کچې له مخې باید لاندې اقدامات په ترتیب سره عملي شي.

- د کار موقتي درول.
- د تړون لغوه کول.
- قانوني تعقیب او عدلي اجرآت.

دا جزایي تدابیر د قانون د حاکمیت د ټینګښت او د نورو احتمالي سرغړونو د مخنیوي لپاره حیاتي ارزښت لري.

**۶ ـ د داوطلبۍ نه کولو زیانونه**

**اداري او قانوني زیانونه**

له داوطلبۍ پرته د تړون ورکول د فساد زمینه برابروي، د حکومت او اداري اعتبار ته زیان رسوي او وزارت د قانوني مسوولیتونو او حقوقي خطرونو سره مخ کوي.

**مالي او اقتصادي زیانونه**

د رقابت نشتوالی د دولت د عوایدو د کمېدو، د ټیټ کیفیت د پروژو د پلي کېدو او د نړیوالو پانګونو د راکمېدو لامل ګرځي، چې په پایله کې داخلي اقتصاد زیانمنېږي.

**سیاسي او ټولنیز زیانونه**

غیر رڼې پرېکړې د خلکو بې باوري زیاتوي، د حکومت مشروعیت کمزوری کوي او په ځینو مواردو کې د قومي او سیمه ییزو نیوکو او شخړو سبب ګرځي.

**د رنې داوطلبۍ پرته د تړونونو خطرونه**

له رڼې داوطلبۍ پرته د تړونونو ورکول قانوني، اقتصادي او سیاسي خطرونه رامنځته کوي. نافذه قوانین په ځرګنده توګه حکم کوي، چې د عامه شتمنیو هر ډول امتیاز باید د ازادې او رڼې سیالۍ له لارې ورکړل شي. د دې اصل نه مراعات کول اداره له حقوقي پوښتنو او مسوولیتونو سره مخ کوي.

**د اداري او شخصي خوندیتوب تضمین**

رڼه داوطلبۍ دا تضمین برابروي، چې هره پرېکړه په اسنادو ولاړه وي. که په راتلونکي کې د پلټنې، شکایت یا سیاسي بدلون له امله پوښتنې راپورته شي، داوطلبۍ یوازینۍ قوي او قانوني سند دی، چې د وزیر او مسوولو کارکوونکو شخصي مسوولیت په سیستمي مسوولیت بدلوي او د ادارې او اشخاصو خوندیتوب تضمینوي.

**پایله او سپارښتنې(Conclusion & Recommendations)**

**پایله**

د کانونو او پټرولیم وزارت د تړونوو د رڼو، عادلانه او مسلکي پلي کېدو ځېړنې ښیي، چې د داوطلبۍ اصول نه مراعاتول د اداري فساد، مالي زیانونو، اقتصادي ستونزو او ټولنیزو شخړو سبب ګرځي. غیر شفاف تړونونه نه یوازې د داخلي عوایدو د کمښت لامل کېږي، بلکې د چاپېریال ساتنې مقررات تر پښو لاندې کوي، سیمه‌ییزو او قومي شخړو ته زمینه برابروي او د نړیوالو پانګوالو باور له منځه وړي.

شفافه او قانونمنده داوطلبۍ د دولت د مشروعیت، د خلکو د باور او د داخلي شتمنیو د عادلانه استفادې لپاره حیاتي ارزښت لري. همدارنګه، دا د ادارې د مسلکي اعتبار ساتلو، د فني او مالي قوي شرکتونو د غوره کولو او د تړونونو د قانوني پلي کېدو تضمین برابروي.

**سپارښتنې**

– هر کان باید د شفافې، ازادې او رقابتي داوطلبۍ له لارې په قرارداد ورکړل شي. دا به د فساد، ترجیحي تړونونو او غیرقانوني لاسوهنو مخه ونیسي.

– د فني، مالي او چاپېریالي ورتیا معیارونه باید له وړاندې ښکاره اعلان شي او د ارزونې هیئت لخوا په مسلکي توګه وڅارل شي. دا کار د شخصي سلیقې او فشارونو د اغېزو مخه نیسي.

– د کانونو فعالیتونه باید د اړوندو ادارو له خوا دوامداره وڅارل شي، راپورونه باید میاشتني او ربعوار وړاندې شي او وروستۍ منظوري یې د ریاست‌الوزرا مقام له لوري ورکړل شي.

– شرکتونه باید د بې‌عدالتۍ یا سرغړونې په صورت کې د شکایت ثبتولو حق ولري او ځېړنې باید په ټاکلي وخت کې بشپړې او پایلې یې اعلان شي.

– دولتي کارکوونکي باید د داوطلبۍ، مسلکي اخلاقو، شفافیت او قانوني پلي کېدو په اړه وروزل شي، ترڅو غیررقابتي تړونونه د قانون خلاف عمل وپېژندل شي.

– د قانون له سرغړونې وروسته د ترون لغوه کول، جزايي تعقيب او د مسوولو کارکوونکو ګوښه کول په جدي ډول عملي شي، ترڅو د راتلونکو سرغړونو مخنيوی وشي.

– د ترونونو منظوري بايد د يوې اداري لخوا نه، بلکې د ګډ تصميم له لارې وشي. دا اقدام د فساد، فشار او شخصي نفوذ د کمولو مهم تضمين دی.

– د ترونونو بشپړ متن، د ارزونې راپورونه او اړوند معلومات بايد د رسنيو او عامه ويبپاڼو له لارې خپاره شي، ترڅو د ټولو ګډونوالو، رسنيو او ټولنې لاسرسی ورته ممکن وي.

دا سپارښتنې او اصول په منظمه توګه د کانونو ترونونو د روڼتيا، قانونيت، اقتصادي، ټولنيزې او چاپېريالي ثبات لپاره عملي وړانديزونه برابروي. پلي کول يې د داخلي شتمنيو د ساتنې، د دولت د مشروعيت ټينګښت او د خلکو د باور د لوړولو تضمين کوي.

## مآخذ


١ – النساء: الآية: ۵۸.
٢ – تفسير کابلی جلد١ ص: ۴۸۸.
٣ – متفق عليه.
۴ – النحل: الآية: ٩٠.
۵ – تفسير کابلی جلد١ ص: ١۵۶۸.
۶ – النساء: الآية: ۵۸.
٧ – تفسير کابلی جلد١ ص: ۴۸۸.
٨ – مسلم.
٩ – القصص: الآية: ٢۶.
١٠ – تفسير کابلی جلد٢ ص: ۴٩٧.
١١ – البخاري.
١٢ – الشورى: الآية: ٣٨.
١٣ – تفسير کابلی جلد٢ ص: ١٠۴۶.






# طراحی برمه‌های اکتشافی تکمیلی با استفاده از روش مدیریت خطای جیواستاتستیکی در معدن سنگ آهن سیریز

یحیی خان "فیض خیل"
آمر تحقیق و توسعه معادن در ریاست انستیتوت معادن

**چکیده**

طراحی برمه‌های اکتشافی تکمیلی یکی از مسائل مهم در پروژه‌های اکتشافی و معدنی است که به منظور کاهش عدم قطعیت، تهیه اطلاعات بیشتر از معدن و کاهش خطر فعالیت‌های معدنی در مراحل مختلف از عمر معدن مطرح می‌شود. هزینه و زمان بالای حفر برمه های اکتشافی، محدودیت‌های بودجۀ پروژه‌های اکتشافی و عدم قطعیت در دیتاها، منجر به توسعه الگوریتم‌های طراحی برمه‌های تکمیلی شده است که عدم قطعیت‌ها می‌تواند با طراحی هوشمندانه برمه‌های تکمیلی بین برمه‌های اولیه و با استفاده از مدیریت خطای جیواستاتستیکی که شامل طیف وسیعی از روش‌های جیواستاتستیکی است کاهش یابد. یکی از روش‌های مدیریت خطای جیواستاتستیکی، به حداقل رساندن واریانس تخمین است که می‌تواند با حفاری در مناطقی با مقادیری خطای بالا کاهش یابد. در این مقاله، بر اساس مدل سازی جیواستاتستیکی معدن سنگ آهن سیریز، تخمین عیار و واریانس کریجینگ بر روی مدل بلوکی انجام شده است. در ادامه، تابع هدف براساس عیار ماده معدنی(G)، ضخامت ماده معدنی(T) و خطای تخمین(E) تعریف شده است و تابع هدف به صورت بلوکی محاسبه می‌شود.

در نهایت، با استفاده از روش مدیریت خطای جیواستاتستیکی و بر اساس تابع هدفی از ترکیب سه ویژگی، از( ۵ تا ۲۰ ) برمه تکمیلی بر روی شبکه برمه‌های اولیه منطقه مورد مطالعه پیشنهاد شده است. اولویت اولیه برمه‌ها در مرکز منطقه (از نوع تکمیلی) و اولویت‌های بعدی در اطراف محدوده و به صورت توسعهٔ طراحی شده است. چنین استنباط شد که با استفاده از روش جیواستاتستیکی می‌توان بهترین شبکه برمه‌های تکمیلی را طراحی کرد و از حفربرمه‌های غیر ضروری جلوگیری نمود.

**کلیدواژه:** موقعیت یابی حفاری، جیواستاتستیک، شبکه اکتشافی، برمه تکمیلی، واریانس کریجینگ.

## مقدمه

از اواخر دهه(۱۹۸۰) استفاده از روش‌های موقعیت یابی برمه‌های تکمیلی به عنوان ابزاری با ارزش در طراحی و مدیریت پروژه‌های اکتشافی تفصیلی مطرح شد. مسئله موقعیت یابی برمه‌های تکمیلی به این صورت قابل تعریف است، که انتخاب مجموعهٔ از مختصات نقاط برای حفر برمه‌های اکتشافی، به نحوی که پیشینه اطلاعات ممکن در رابطه با محدوده مورد مطالعه به دست آید (۱).

به طور کلی برمه‌های اکتشافی برای افزایش اطلاعات و کاهش عدم قطعیت در مراحل تصمیم گیری حفر می‌شوند. مدل سه بُعدی سنگ معدنی با توجه به اطلاعات به دست آمده از نمونه‌های برمه‌های موجود ایجاد می‌شود. فرض اساسی در روند برنامه ریزی تولید این است که مدل بلوک سه بُعدی از سنگ معدنی نشان دهنده تنوع واقعی عیار در معدن است، درحالی که مدل‌ها شامل عدم قطعیت هستند. بنابر این تمام برنامه‌های طراحی شده بر این اساس عدم قطعیت را در ذات خود به همراه دارند. برای کاهش عدم قطعیت، اطلاعات در مورد منطقه تحت مطالعه باید افزایش یابد، بنابر این افزایش تعداد نمونه‌ها با حفر و طراحی برمه‌های تکمیلی، ساده ترین و اولین روشی است که در نظر گرفته می‌شود(۲).

یافتن چند برمه تکمیلی از مجموعه وسیعی از موقعیت‌ها، یکی از مهم‌ترین چالش‌های اقتصادی و فنی در اکتشاف و بهره برداری از یک ساحه معدنی است. برای تعیین مکان بهینه برمه تکمیلی، اطلاعات موجود از نمونه‌های قبلی، برمه‌های حفاری شده و قضاوت‌های انجنیری مربوط ضروری است. در واقع، مناطقی که مقادیر عیار و ضخامت بالای دارند، مناطقی با واریانس گسترش بالا و مناطق با تنوع محلی بالا، از جمله معیارهای است که برای تصمیم گیری نهایی در مورد نمونه‌گیری اضافی پیشنهاد شده است(۳ و ۴). یکی از روش‌های اصلی برای طراحی بهینه برمه‌های تکمیلی، کاهش واریانس تخمین است که این مشخصه تابعی از شبکه نمونه، تراکم نمونه، تعداد نمونه‌ها و ساختار کوواریانس آن‌هاست، اما برای اینکه این نمونه‌ها مفید باشند، نباید اطلاعات غیر ضروری و تکراری ارایه دهند(۵).

در این مقاله، روش‌های مدیریت خطای جیواستاتستیکی بر پایه تابع هدفی از میانگین عیار و خطا و مجموع ضخامت سنگ معدنی به منظور طراحی شبکه برمه‌های تکمیلی به کار گرفته شده است.

## مطالعه موردی

منطقه معدنی سیریز در فاصله(۱۵۰) کیلومتری شمال باختری شهر کرمان و(۷۵) کیلومتری شمال باختری شهر زرند در استان کرمان(۱۲) کیلومتری غرب بخش سیریز واقع شده است(شکل یک). این منطقه در میان طول‌های جغرافیایی(۵۵) درجه و(۴۸) دقیقه تا(۵۵) درجه و(۴۹) دقیقه خاوری و عرض‌های جغرافیایی(۳۱) درجه و(یک) دقیقه تا(۳۱) درجه و(دو) دقیقه شمالی و از دیگاه زمین شناسی ساختاری در جنوب خاوری پهنه ایران مرکزی جای گرفته است.

محدوده اکتشافی در محدوده نقشه زمین شناسی (۱:۲۵۰۰۰۰) راور و نقشه زمین شناسی(۱:۱۰۰۰۰۰) سیریز واقع شده است(٦). طبق (شکل دو) منطقه مورد مطالعه در جنوب باختری پهنه ایران مرکزی و در پهنه زمین ساختی کاشمر- کرمان(معادل بلوک پشت بادام) میان شکستگی‌های کوهبنان - کلمرد در خاور و پشت بادام - زرند در باختر جای گرفته است (۷).



شکل یک موقعیت روستا سیریز و راه‌های دسترسی به آن(٦).




شکل دو موقعیت منطقه مورد مطالعه در پهنه ایران مرکزی و ارتباط آن با بلوک‌های زمین ساختی و شکستگی‌های اصلی، شکستگی نایبند (NBF)، شکستگی کلمرد(KMF)، شکستگی زرند(ZRF)،شکستگی رباط پشت بادام(PBF)، شکستگی نایین(NNF)و شکستگی کوهبنان(KBF)(۷).

## تجزیه و تحلیل دیتاها

در این مقاله، جهت طراحی شبکه برمه‌های تکمیلی در معدن سنگ‌آهن سیریز از(۵۲) برمه اکتشافی، که عمدتاً به صورت قائم حفاری شده و بین(۴۰تا ۲۵۵) متر عمق دارند، استفاده شده است، که به تعداد(۱۲۰۸) نمونه با طول‌های مختلف انتخاب و مقادیر آهن(Fe) در آن‌ها اندازگیری شد. به منظور شناخت ماهیت تابع توزیع دیتاها، مطالعات جیواستاتستیکی بر روی دیتاهای آهن صورت گرفت، که خصوصیات جیواستاتستیکی دیتاهای مورد بررسی به همراه هیستوگرام در(شکل سه) نشان داده شده است. بعد از رسم هیستوگرام و تحلیل دیتاها، توزیع دیتاها را می‌توان تقریباً نرمال در نظر گرفت و همچنین می‌توان از پارامترهای جیواستاتستیکی خمیدگی و کشیدگی برای این موضوع استفاده کرد (جدول اول).




شکل سه هیستوگرام توزیع دیتاهای خام آهن

**جدول اول پارامترهای جیواستاتستیکی متغیر مورد مطالعه**

| متغیر | میانگین | واریانس | ضریب تغییرات(%) | خمیدگی | کشیدگی | کمینه | چارک اول | میانه | چارک سوم | بیشینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| آهن | ۳۰/۸۵ | ۲۰۴/۳۲ | ۴٦/۳۳ | -۱/۰۲ | -۱/۰۹ | ۱/۹۱ | ۱۸/٦۲ | ۳۰/۹۴ | ۴۲/۸۹ | ٦۱/۹۳ |

یکی از مسائل مهم در تخمین‌های جیواستاتستیکی، کامپوزیت سازی دیتاها است، که در محاسبه ذخیره معدن مورد مطالعه، از کامپوزیت‌های(۲/۵) متری استفاده شده است.(شکل چهار) تطابق توزیع نرمال دیتاهای خام و دیتاهای کامپوزیت شدۀ(۲/۵) متری آهن را بر اساس پارامترهای میانگین و انحراف معیار نشان می‌دهد.




شکل چهار مقایسه دیتاهای خام و کامپوزیت مآهن بر اساس پارامترهای میانگین و انحراف معیار.

## ساختار فضائی دیتاهای مورد بررسی




شکل پنجم واریوگرام دیتاهای آهن در جهت اصلی به همراه مدل رسم شده.

به منظور تحلیل ساختاری و همبستگی فضای دیتاها، واریوگرافی غیر جهتی برای متغیر آهن انجام شد که بر اساس مدل نمایی رسم داده شده است. واریوگرام تجربی آهن به همراه تعداد جفت نمونه‌های شرکت داده شده نشان می‌دهد، که بخش ساختاردار واریوگرام نسبت به بخش بدون ساختار(اثر قطعۀ قابل توجه است(شکل پنجم). در(جدول دو) مشخصات مدل واریوگرام برای متغیر آهن در جهات اصلی نمایش داده شده است.

### جدول دو پارامترهای مدل واریوگرام متغیر آهن در جهت اصلی

| پارامترهای مدل واریوگرام | آهن |
|---|---|
| مدل واریوگرام | نمایی |
| اثر قطعۀ(فیصد۲) | ۴۴/۴۰ |
| آستانه(فیصد۲) | ۱۰۶/۹۹ |
| شعاع تأثیر(متر ) | ۱۰۶/۵۸ |

بررسی و تشخیص ناهمسانگردی احتمالی معدن، از جمله مهم‌ترین مسائل ارزیابی‌های جیواستاتستیکی است، که در این مطالعه به منظور تشخیص ناهمسانگردی دیتاهای کامپوزیت شدۀ آهن و اکسید آهن، در جهت اصلی، متوسط و کوچک واریوگرام ترسیم شد، که مشخصات بعدی و جهتی بیضی ناهمسانگردی مربوط به آهن و اکسید آهن، در (جدول سه)، درج شده است. بعد از بررسی مشخصات بعدی و جهتی بیضی ناهمسانگردی آهن و اکسید آهن، فضا همسانگرد تشخیص داده شد.

## جدول سه پارامترهای بیضی ناهمسانگردی دیتاهای آهن

| | | |
|---|---|---|
| نسبت محور بزر به محور میانی major / semi-major | ۱ |  |
| نسبت محور بزرگ به محور کوچک Major / minor | ۱/۱٦۲ | |
| آزیموت (Azimuth) | ۲٦۰/۱۱ | |
| شیب (Dip) | ۹/٦۰ | |
| پلانج (Plunge) | -۵۸/۴۱ | |

### مدل سازی هندسی و تخمین عیار معدن

برای مدل سازی و تخمین‌های جیواستاتستیکی، فضای تخمین مدل سازی شده را باید به بلوک‌های سه بُعدی تقسیم کرد که در این مطالعه با توجه به کامپوزیت‌های(۵/۲) متری و از اینکه ذخیره معدنی تقریباً به صورت همسانگرد گسترش داشته و فواصل میانگین برمه ها(۵۰) متر است، ابعاد بلوک‌های اصلی(۱۵x۱۰x۱۵) متر تعیین شد، و مراحل تخمین با استفاده از نرم افزار سوریک و کریجینگ معمولی انجام شده است. توزیع فضایی عیار آهن و واریانس کریجینگ آنها، با در نظر گرفتن هندسه سنگ معدنی بر اساس حداقل عیار(۲۰) فیصد نمایش داده شده است(شکل شش).




شکل شش مدل تخمینی سه بعدی بر اساس حداقل عیار( ۲۰) فیصد، الف) توزیع عیار آهن، ب) توزیع واریانس آهن.

### طراحی شبکه برمه‌های تکمیلی اکتشافی در منطقه مورد مطالعه

امروزه از برمه‌های تکمیلی به عنوان ابزاری با ارزش در طراحی و مدیریت پروژه‌های اکتشافی، افزایش اطلاعات از معدن و کاهش عدم قطعیت در مراحل تصمیم گیری استفاده می‌شود. بدین منظور طراحان همیشه به دلیل محدودیت‌های بودجهٔ به دنبال بهینه سازی مناسب ترین مدل با کمترین تعداد و طول برمه هستند، که به معنی بهینه سازی شبکه برمه‌های تکمیلی است.

در این مقاله به منظور طراحی شبکه برمه‌های تکمیلی از(۵۲) برمه اکتشافی اولیه و با توجه به محدود سازی مدل هندسی سنگ معدنی استفاده شد. بر اساس قضاوت انجنیری و انتخاب بهترین شبکه برمه‌های تکمیلی از ضرائب تعدیل فواصل α=۱.۲۵m و β=۰.۷۵m در نظر گرفته شد، که α فاصله بین برمه‌های تکمیلی و برمه‌های قبلی، و β فاصله بین برمه‌های تکمیلی، در شبکه برمه‌های اولیه را نشان می‌دهد.

تولید و تحلیل نقشه‌ها با استفاده از نرم افزار(متلب) و روش جیواستاتستیکی انجام شد. در این راستا نقشه عیار متوسط، متوسط خطا، مجموع ضخامت و در نهایت تابع(GET) در حالت خام و نرمال شده ترسیم شد که مناطق امیدبخش دارای عیار، ضخامت و واریانس بیشتر است(شکل هفت).




شکل هفت الف(نقشه عیار متوسط آهن، ب) نقشه عیار متوسط آهن با حداقل عیار( ۲۰) فیصد، پ) نقشه خطای متوسط .آهن، ت) نقشه مجموع ضخامت آهن، ث) نقشه تابع get و ج) نقشه تابع (GET)نرمال شده را نشان می‌دهد.

نقشه‌های نمایش داده شده در شکل(نه) بر اساس مدل بلوکی ساخته شده است و ورودی الگوریتم طراحی حفاری‌های تکمیلی محسوب می‌شوند. با در نظر گرفتن حالت‌های که در منطقه مورد مطالعه(۵، ۱۰، ۱۵ و ۲۰) برمه تکمیلی پیشنهاد شود، نقشه‌های شبکه برمه‌های تکمیلی همراه با شبکه برمه‌های اولی به ترتیب قرار ذیل به تصویر کشیده شده است (شکل‌های هشت ـ ۱۱). همانطور که مشخص است اولویت‌های اصلی حفاری تکمیلی در مرکز معدن و اولویت‌های بعدی در اطراف معدن و به صورت توسعهٔ پیشنهاد شده است.



شکل هشت شبکه پنج برمه تکمیلی براساس تابع GET معیاری در بین شبکه اولیه حفاری



شکل نه شبکه ده برمه تکمیلی براساس تابع GET معیاری در بین شبکه اولیه حفاری



شکل ده شبکه ۱۵ برمه تکمیلی براساس تابع GET معیاری در بین شبکه اولیه حفاری



شکل۱۱ شبکه ۲۰ برمه تکمیلی براساس تابعGET معیاری در بین شبکه اولیه حفاری

## نتیجه گيري

طراحی موقعیت برمه‌های تکمیلی یکی از مهم‌ترین اقداماتی است، که به منظور کاهش عدم قطعیت، تهیه اطلاعات بیشتر از معدن و کاهش خطر فعالیت‌های معدنی، در مراحل مختلف از پروژه‌های اکتشافی استفاده می‌شود. از انجام این مطالعه چنین استنباط شد، که اجرای روش‌های جیواستاتستیک، در کاهش عدم قطعیت، ارتقا ارزش اطلاعات، کاهش حداقل واریانس تخمین و طراحی مناسب ترین نقاط برمه‌های تکمیلی در مراحل مختلف اکتشاف مواد معدنی، نقش پر رنگی را ایفا می‌کند. به منظور تعیین مکان بهینه برمه‌های تکمیلی، اطلاعات موجود از نمونه‌های قبلی، برمه‌های حفاری شده و قضاوت‌های انجنیری مربوط مهم و ضروری است. در نقشه‌ها و الگوریتم‌های استفاده شده، انتخاب مقدار ضرائب تعدیل(α و β) در طراحی برمه‌های تکمیلی از اهمیت خاص برخوردار بوده و با استفاده از روش مدیریت خطای جیواستاتستیکی و تابع(GET) می‌توان بهترین شبکه برمه‌های تکمیلی را طراحی کرد. برمه‌های با اولویت بالا در مرکز محدوده پیشنهاد شد و در صورت تصمیم به توسعه اکتشاف می‌توان اولویت‌های بعدی در اطراف معدن را بررسی کرد. این روش با کمینه سازی در هزینه و زمان، بیشینه سازی در اطلاعات اکتشافی از معدن را در پی خواهد داشت.

## منابع

١ ـ وثوقی، ب.(١٣٩٠). زمین شناسی عمومی محدوده اکتشافی سیریز. مجتمع صنعت و معدن ذوب آهن جنوب شرق ایرانیان.

٢ ـ مقدسی، س.، و یزدی، ج.، و نامدارمحمدی، ط.(١٣٩٦). کانی‌شناسی و زمین‌شیمی معدن آهن سیریز، شمال باختر زرند، استان کرمان. علوم زمین، ٢٧(١٠٦)، ٩٩-١١٦.

3- Soltani-Mohammadi, S., & Safa, M. 2015. Optimally locating additional drill holes to increase the accuracy of ore/waste classification. Mining Technology, 124(4), 213-221.

4- Soltani-Mohammadi, S., Safa, M., & Mokhtari, H. 2016. Comparison of particle swarm optimization and simulated annealing for locating additional boreholes considering combined variance minimization. Computers & Geosciences 95, 146-155

5- Jafrasteh, B., & Suárez, A. 2021. Objective functions from Bayesian optimization to locate additional drillholes. Computers & Geosciences, 147, 104674.

6- Jafrasteh, B., & Fathianpour, N. 2017. Optimal location of additional exploratory drillholes using a fuzzy-artificial bee colony algorithm. Arabian Journal of Geosciences, 10(9), 213.

7- Hossein-Morshedy, A., Torabi, S.A., & Memarian, H. 2015. A new method for 3D designing of complementary exploration drilling layout based on ore value and objective functions. Arabian Journal of Geosciences, 8(10), 8175-8195.






## د کونډو ښځو د حقوقو په برابرولو کې

# د امیر المؤمنین حفظه الله د فرمان اغیزې

لیکوال مفتي دادمحمد "محمدي"
د کانونو او پټرولیم وزارت د ارشاد او دعوت رئیس

**لنډیز**

د کونډو ښځو حقوق د الله جل جلاله یو له هغو مهمو احکامو څخه ده، چې په اجراء سره یې د دنیا او اخرت عزت ترلاسه کیږي. خو زمونږ په ټولنه کې د کونډو حقوقو ته په سمه توګه رسیدنه نه کیږي په دې اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمان ډیرې مثبتې اغیزې کړې دي. د دې لیکنې موخه دا ده چې په ټولنه کې د کونډو ښځو حقوقو ته خلک متوجې شي او یادو دلائیلو ته یې پام واړول شي. دا څېړنه وصفي او تحلیلي څیړنه ده چې د کره معلوماتو پر بنسټ ترسره شوې، چې له علمي مقالو، اسلامي منابعو او دولتي اسنادو څخه په کې کار اخیستل شوی ده.

**سریزه**

د یوې اسلامي ټولنې د سوکالۍ او عدالت بنسټ د دې ټولنې د وګړو د حقوقو په برابرولو باندې ولاړ دی، او ښځې(په ځانګړې ډول کونډې ښځې) د دې عدالت یوه مهمه برخه جوړوي. کونډې ښځې چې په ژوندانه کې له بېلابېلو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ وي، بې سرپرسته وي، له اقتصادي پلوه له ستونزو سره لاس او ګریوان وی او تر یوه بریده په بېلابېلو ټولنو کې ځینې خلک په کمه سترګه ورته ګوري، تر بل هر چا د ځانګړې پاملرنه او ملاتړ مستحقې دي.

د اسلامي شريعت له مخې د کونډو ښځو حقوق نه یواځې دا چې تعریف شوي دي، بلکې د هغوی د حق حقوقو لکه له میراث څخه برخمنې کېدل، په خپله خوښه نکاح کول، د مالي ملاتړ ضمانت، د احترام حق او داسې نورو لپاره روښانه اصول ټاکل شوي دي.

په افغانستان کې د اسلامي امارت د زعیم امیرالمومنین حفظه الله تعالی د فرمانونو ځای او ارزښت ځانګړی دی. دغه فرمانونه نه یواځې شرعي لارښووني دي، بلکې د ټولنیز عدالت، انساني کرامت او اسلامي ارزښتونو عملي تفسیر هم ګڼل کیږي، د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا صادر شوي فرمانونه د کونډو ښځو د حقوقو د تامین، د هغوی پر وړاندې د ظلم او د هغوی د کمزوتیا مخنیوي او عزتمن ژوند لپاره د شرایطو برابرولو ته ځانګړې توجه کوي.

په دې مقاله کې روښانه شوې، چې څرنګه یو اسلامي نظام کولای شي د ښځو په ځانګړې ډول د کونډو ښځو حقونه خوندي کړي او هغوی ته د کرامت ډک ژوند برابر کړي. په اسلامي شريعت کې کونډه ښځه کوم حقوق لري او زمونږ په ټولنه کې د کومو عواملو او ناوړه دودونو له امله دغه حقوق متضرر شوي دي او همدارنګه اسلامي نظام د دغو حقوقو په برابرولو کې څومره مسوولیت لري او په ځانګړې ډول په دې برخه کې د امیرالمومنین حفظه الله فرمانونه څومره اغیزمن ثابتیدلای شي.

**لومړی مطلب: د کونډې ښځې تعریف او د هغې ځانګړي حقوق**

**د کونډې تعریف:** کونډه ښځه د لغت له مخې هغه ښځه ده چې خاوند یې وفات شوی وي او د اصطلاح له مخې هغه ښځه ده، چې خاوند یې له کوم دلیل نه وفات شوی وي او اوس د نکاح او میړه د نشتوالي په حالت کې وي.

د کونډې ښځې حقوق په اسلامي شريعت کې روښانه دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱ ـ د نکاح اختیار او خپلواکي**

کونډه ښځه د خپل سرنوشت د ټاکلو او د دویمي نکاح په برخه کې بشپړه خپلواکي لري. په اسلامي شريعت کې د کونډې له خوښې او رضایت پرته د هغې اجباري نکاح کول منع دي. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "لا تنکح الأیم حتی تستأمر" یعنې د کونډې ښځې نکاح کول روا نه دي ترڅو له هغې څخه اجازه وانخیستل شي.

په بل حدیث شریف کې راغلي: "الأیم أحق بنفسها من ولیها" یعنې کونډه ښځه د خپل نفس په اړه له خپل ولي څخه زیات حق لري.

**۲ ـ د میراث حق**

د جاهلیت په دور کې به ښځې له میراث څخه محرومې وې، خو اسلام هغوی ته د میراث حق ورکړ الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ﴾

ژباړه: "او ښځو (مېرمنو) ته څلورمه برخه ده له هغه مال څخه چې تاسو پرېښې وي که تاسو اولادونه لرئ، خو که اولاد لرئ نو ښځو ته اتمه برخه ده له هغه مال څخه چې تاسو پرېښی دی".

**۳ ـ د مهر حق**

د نکاح په صورت کې کونډه ښځه د خپل نوي خاوند څخه د مهر د ترلاسه کولو مستحقه ده، ځکه چې د مهر اصلي مقصد د ښځې درناوی او تکریم دی. الله تعالی فرمايي: ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾

**ژباړه:** "او ښځو ته د هغوی مهرونه په خوښی سره ورکړئ".

**۴ ـ د عزت او درناوي حق**

په اسلامي شریعت کې هرې ښځې ته د احترام او درناوي حق ورکړل شوی دی، په ځانګړې ډول کونډې ښځې چې د ژوند سختیو او ننګونو سره مخ دي. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:" الساعي على الأرملة والمسكين كالمجاهد في سبيل الله أو القائم الليل الصائم النهار".

**ژباړه:** "هغه څوک چې د کونډې او مسکین د مرستې لپاره هڅه کوي، داسې دی لکه څوک چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي یا شپه په عبادت کې تېروي او ورځ روژه ساتي".

**دوهم مطلب: د کونډو ښځو د حقوقو په اړه د قرآن کریم او سنت دلایل**

قرآن کریم او سنت نبوي د کونډو ښځو د حقوقو په اړه ډېر ښکاره ارشادات لري. په دې برخه کې څو مهم دلایل بیانوو.

**۱ ـ د نکاح له اجبار څخه منع کولو دلایل**

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا﴾

**ژباړه:** "اې مؤمنانو! تاسو ته دا روا نه ده چې ښځې په زور او اکراه سره په میراث واخلئ".

د آیت شأن نزول دا دی چې د جاهلیت په زمانه کې به کله څوک مړ شو، د هغه ورثه (لکه ورور، یا زوی) به د هغه له کونډې سره داسې چلند کاوه لکه د مال په څېر، کله به یې له هغې سره په زور واده کاوه، کله به یې بل چا ته ورکوله او کله به یې د میراث څخه محرومه ساتله. نو الله تعالی دا آیت نازل کړ چې ښځې باید په میراث وا نه اخیستل شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "لا تنكح الأيم حتى تستأمر، ولا تنكح البكر حتى تستأذن"

**ژباړه:** "کونډه ښځه تر هغه په نکاح نه ورکول کېږي ترڅو له هغې سره مشوره ونه شي، او باکره نجلۍ ترهغه په نکاح نه ورکول کېږي ترڅو له هغې څخه اجازه وانخیستل شي.

حنفي فقهاوو ددې حدیث په اړه ویلي چې کونډه ښځه د نکاح د عقد په برخه کې له خپل ولي څخه زیات اختیار لري. که چېرې کونډه ښځه له اجازې پرته په نکاح ورکړل شي، نو هغې ته اختیار ورکول کېږي چې نکاح فسخ کړي.

**۲ ـ د احترام او درناوي په اړه دلایل**

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾

**ژباړه:** "او له یتیمانو او مسکینانو سره نېکي وکړئ او خلکو ته نېکې خبرې کوئ".

**درېیم مطلب: په افغاني ټولنه کې د کونډو ښځو د حقوقو پرضد ناوړه دودونه**

په افغاني ټولنه کې د کونډو ښځو د حقوقو پر وړاندې ځینې ناوړه دودونه او رواجونه شتون لري، چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي. دلته د دغو ناوړه دودونو څخه د څو مهمو یادونه یې کوو:

**۱ ـ د کونډې په زور نکاح کول(له لېور سره نکاح)**

زموږ په ټولنه کې یو له هغو ناوړه دودونو څخه چې د اسلامي شریعت سره په ښکاره ټکر کې دی، د کونډې ښځې اجباري نکاح کول له خپل لېور یا د خاوند له بل نږدې خپلوان سره کول. د دې رواج له مخې کله چې یو سړی مړ شي، نو د هغه ورونه یا نور نږدې خپلوان د متوفي کونډه په زور په نکاح کوي. دا ناوره دود په مستقیم ډول د الله تعالی د پورتني فرمان سره په ټکر کې دی.

**۲ ـ د کونډې ښځې پر خلاف تعصب او تبعیض**

په حدیث شریف کې راغلي دي

لا تمنعوا إماء الله مساجد الله، ولا تمنعوهن أن ينكحن أكفاءهن" ژباړه: "د الله تعالی بندګانې(ښځې) د الله تعالی له جوماتونو" مه منع کوئ او هغوی له دې مه منع کوئ چې له خپلو کفو سره نکاح وکړي".

په افغاني ټولنه کې کونډې ښځې اکثراً د بېلابېلو ستونزو سره مخامخ کېږي او ټولنه له هغوی سره د احترام او عزت چلند نه کوي، په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کونډو ښځو او مسکینانو مرسته د الله په لاره کې د جهاد سره برابره ګڼلې ده.

**دوهم مبحث: د کونډو ښځو په اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه.**

**لومړی مطلب: د کونډو ښځو د نکاح په اړه فرمانونه او د هغو شرعي بنسټونه.**

**د امیرالمؤمنین فرمان:** "د مېړه تر وفات وروسته چې شرعي عدت يې تېر شي، کونډه نه لېور ځان ته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده(چې د کفو اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په پام کې نیول شوی وي)".

**د فرمان شرعي بنسټونه:**

دا فرمان د قرآن کریم او سنت نبوي صلی الله علیه وسلم څخه استنباط شوی دی.

**۱ ـ قرآني آیت**

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ﴾ ژباړه: " او هغه(ښځې) مه منع کوئ(له بیا نکاح کولو) چې له هغوی څخه ځینې هغه څه واخلئ چې تاسو هغوی ته ورکړي دي(لکه مهر)، مګر دا چې هغوی ښکاره بې حیایي وکړي."

دا آیت هم په صراحت سره بیانوي چې د کونډې ښځې مخنیوی له بیا نکاح کولو څخه روا نه دی او د هغوی د مهر اخیستلو لپاره د هغوی پر نکاح بندیز لګول هم روا نه دي.

**۲ ـ نبوي فرمان**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم پورتنی حدیث شریف: "لا تنكح الأيم حتى تستأمر الحديث".

**۳ ـ د فقهي قواعدو او مذهبي ارشاداتو څخه استنباط**

حنفي فقه چې په افغانستان کې معتبره فقه ده، په صراحت سره وايي چې کونډه ښځه د خپلې نکاح په برخه کې ازاده ده او ولي د هغې په اړه د اجبار حق نه لري. امام ابو حنیفه رحمه الله وايي: "البالغة العاقلة أحق بنفسها من وليها" یعنې: "بالغه عاقله ښځه د خپل ولي څخه د ځان په اړه زیات حق لري".

د حنفي فقهي له نظره د کونډې ښځې رضایت د نکاح د عقد د صحت لپاره شرط دی او د هغې په زور نکاح کول جواز نه لري.

**دوهم مطلب: د کونډو ښځو د میراث او نورو مالي حقوقو په اړه فرمانونه او د هغو شرعي بنسټونه**

اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د کونډو ښځو د مالي حقوقو په اړه هم څو مهم فرمانونه صادر کړي دي. دغه فرمانونه په مالي برخو کې د کونډو ښځو حقوقو ته د درناوي او د هغوی د مالي ملاتړ لپاره صادر شوي دي.

**د فرمان شرعي بنسټونه**

۱ ـ الله تعالی فرمايي: ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾

**ژباړه:** " او ښځو ته د هغوی مهرونه د زړه له خوښۍ سره ورکړئ".

دا آيت په څرګنده توګه وايي چې مهر د ښځې حق دی او بايد ورکړل شي. د مهر ورکړه نه يوازې د لومړنۍ ښځې حق دی، بلکې د هرې ښځې حق دی، که هغه کونډه وي يا نه وي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا﴾

**ژباړه:** " او په تاسو باندې هيڅ ګناه نشته په هغه څه کې چې تاسو د ښځو په خواستګارۍ کې کنايه کوئ يا په خپلو زړونو کې يې پټوئ، الله پوهيږي چې تاسو به هغوی يادوئ، خو له هغوی سره په پټه وعده مه کوئ، مګر دا چې نېکې خبرې وکړئ"

دا آيت د هغو کونډو ښځو په اړه دی چې د عدت په حالت کې دي، او د عدت تر تېرېدو وروسته د هغوی سره د نکاح کولو اجازه ورکوي او په ضمني ډول د هغوی د مهر حق هم تائيدوي.

**۲ ـ نبوي احاديث**

د امام ابو داوود په سنن کې راغلي دي: "استحلوا الفروج بالمهور" ژباړه: "د ښځو فروج(نکاح) د مهر په ورکولو سره حلال کړئ".

دا حديث د هرې نکاح لپاره د مهر ورکړه لازم ګرځوي او په دې کې د کونډې ښځې نکاح هم شامله ده.

**۳ ـ فقهي قواعد او مذهبي ارشادات**

حنفي فقه په صراحت سره د هرې نکاح لپاره مهر لازم ګڼي، که هغه کونډه وي يا نه وي. امام ابو حنيفه رحمه الله وايي: " المهر حق المرأة في كل نكاح" يعني: "مهر د ښځې حق دی په هر نکاح کې".

د حنفي فقهي له نظره د نکاح په عقد کې مهر د ښځې حق دی او بايد کونډې ښځې ته هم په بشپړ ډول ورکړل شي.

**درېيم مطلب: د کونډو ښځو د حقوقو د ساتنې په اړه قضايي او عدلي فرمانونه او د هغو شرعي بنسټونه.**

اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د کونډو ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره د قضايي او عدلي سيستم په چوکاټ کې هم ځينې مهم فرمانونه صادر کړي دي.

د اميرالمؤمنين فرمان: "د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محکمو ته هدايت صادر کړي څو د ښځو خصوصاً د کونډو د حقوقو او پر هغوی د ظلمونو اړوند عريضې يې په اصولي ډول واخلي او په هکله يې غفلت ونه کړي ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقوقو د ترلاسه کولو په برخه کې له مايوسۍ سره مخ نه شي".

**د فرمان شرعي بنسټونه**

۱ ـ الله تعالی فرمايي: ﴿يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ﴾.

ژباړه: " اې داووده! موږ ته په ځمکه کې خليفه ګرځولی يې، نو د خلکو ترمنځ په حق سره قضاوت وکړه او د نفس له هوا تابعداري مه کوه".

دا آیت د حق پر بنسټ د قضاوت کولو امر کوي، چې په دې کې د کونډو ښځو د حقوقو اړوند قضیې هم شاملې دي.

**۲ ـ نبوي احادیث**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " إنما أنا بشر، وإنکم تختصمون إلي، ولعل بعضکم أن یکون ألحن بحجته من بعض، فأقضي له على نحو ما أسمع، فمن قضیت له بحق أخیه شیئا فلا یأخذه، فإنما أقطع له قطعة من النار".

**ژباړه:** " زه یوازې بشر یم، او تاسو زما خوا ته راځئ چې قضاوت وکړم او ښایي ځینې ستاسو په خپل دلیل کې له نورو څخه زیات تکړه وي، نو زه قضاوت کوم د هغه څه پر بنسټ چې اورم، خو که چېرې زه چا ته د بل چا حق ورکړم، نو هغه دې هېڅکله دا حق نه اخلي، ځکه چې زه هغه ته د اور یوه ټوټه ورکوم".

**۳ ـ فقهي قواعد او مذهبي ارشادات**

په اسلامي شریعت کې د کمزورو خلکو(ضعیفانو) او مظلومانو سره د مرستې او د هغوی د حقوقو د ساتنې په اړه ځانګړې ټینګار شوی. د اسلامي فقهي له مخې د کونډو ښځو پر وړاندې ظلم او تېرى حرام دی او د هغوی د حقوقو ساتنه په اسلامي حکومت لازمه ده.

امام غزالي رحمه الله وایي: " من وظائف السلطان، حمایة المظلومین ونصرة الضعفاء" یعنې: " د سلطان (حاکم) له دندو څخه، د مظلومانو ساتنه او د کمزورو مرسته ده ".

**درېیم مبحث: د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو اغېزې.**

**لومړی مطلب: حقوقي او قانوني اغېزې.**

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو د صادرېدو سره د کونډو ښځو د حقوقو په برخه کې ګڼ شمېر حقوقي او قانوني اغېزې رامنځته شوې دي:

**۱ ـ د کونډو ښځو د حقوقي ملاتړ پیاوړتیا**

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه د کونډو ښځو د حقوقي ملاتړ لپاره یو پیاوړی قانوني چوکاټ رامنځته کړ. د دغو فرمانونو په صادرېدو سره عدلي او قضایي اداري مکلف شوې دي، چې د کونډو ښځو شکایتونو او غوښتنو ته په ځانګړې ډول پاملرنه وکړي. دا چاره د کونډو ښځو د حقوقي ملاتړ پیاوړتیا او د هغوی د حقوقو د پښو لاندې کېدو مخنیوی کوي.

**۲ ـ د عدلي او قضایي سیستم د کارکوونکو د لارښوونې وسیله**

د امیرالمؤمنین فرمانونه د قاضیانو، څارنوالانو او د عدلي او قضایي سیستم د نورو کارکوونکو لپاره د لارښوونې یوه مهمه وسیله ده، چې د کونډو ښځو د قضیوو په اړه قضاوت کوي. د دغو فرمانونو په مرسته، دوی کولای شي په اسلامي شریعت برابر قضاوتونه وکړي او د کونډو ښځو حقوق خوندي کړي.

**دوهم مطلب: ټولنیزې او کلتوري اغېزې**

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه د کونډو ښځو د حقوقو په اړه ځینې ټولنیزې او کلتوري اغېزې هم درلودې لکه د کونډو ښځو د وضعیت ښه کېدل.

د امیرالمؤمنین فرمانونه د کونډو ښځو د ټولنیز وضعیت د ښه کېدو لپاره هم زمینه برابره کړې ده. د دغو فرمانونو په مرسته، اوس کونډې ښځې د ټولنې د نورو غړو لخوا د ډېر احترام او درناوي وړ ګرځېدلې دي او د هغوی د حقوقو پښولاندې د یوه ناوړه عمل په توګه ګڼل کېږي.

**درییم مطلب: د ناوړه دودونو په له منځه وړلو کې د فرمانونو رول**

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه د ناوړه دودونو په له منځه وړلو کې هم مهم رول لوبولی دی.

**۱ ـ د کونډو ښځو د عزت او کرامت ساتنه**

د امیرالمؤمنین فرمانونه د کونډو ښځو د عزت او کرامت د ساتنې لپاره هم زمینه برابره کړې ده. د دغو فرمانونو په مرسته اوس کونډې ښځې په ټولنه کې د ډېر عزت او احترام وړ ګرځېدلي دي او د هغوی د عزت او کرامت ساتنه د اسلامي شریعت د یوه مهم اصل په توګه ټینګار شوی ده.

**پایله**

دې لیکنه کې د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو اغېزې د کونډو ښځو د حقوقو په تأمینولو کې تر څېړنې لاندې ونیول شوې. دا فرمانونه د هغوی په اړه د ناوړه دودونو او رواجونو په له منځه وړلو کې ډېرې مثبتې اغېزې درلودې او د دغو فرمانونو په پلي کېدو سره به د کونډو ښځو د حقوقو وضعیت نور هم ښه شي.

په پای کې ویلی شو چې د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو پلي کېدو به د کونډو ښځو د حقوقو په برابرولو او د هغوی د وضعیت په ښه کېدو کې ډېره مرسته وکړي.

**اخځلیکونه**

۱ ـ النساء: ۱۲.
۲ ـ النساء: ۴.
۳ ـ النساء: ۱۹.
۴ ـ تفسیر ابن کثیر، ج ۲، صـ ۲۴۲.
۵ ـ البقرة: ۸۳.
۶ ـ د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت رسمي جریده، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه، حکمونه او لارښووني، ۱۴۴۴ هـ . ق، شمېره 1432، صـ ۴۶.
۷ ـ النساء: ۱۹.
۸ ـ تفسیر طبري، ج۷، صـ ۵۹۱.
۹ ـ بدائع الصنائع، ج ۲، صـ ۲۴۸.
النساء: ۴.
۱۰ ـ تفسیر القرطبي، ج ۵، صـ ۲۳.
۱۱ ـ البقرة: ۲۳۵.
۱۲ ـ تفسیر ابن کثیر، ج ۱، صـ ۶۳۸.
۱۳ ـ بدائع الصنائع، ج ۲، صـ ۲۷۴.
۱۴ ـ د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت رسمي جریده، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله فرمانونه، حکمونه او لارښووني، ۱۴۱۱هـ . ق، شمېره )۱۴-۱۴ ، صـ۱۴۱۴.
۱۵ ـ ص: ۲۶.
۱۶ ـ تفسیر القرطبي، ج ۱۵، صـ ۱۹۵.
۱۷ ـ إحیاء علوم الدین، ج ۲، صـ ۱۲۴.
۱۸ ـ کرامة المرأة في الإسلام، صـ ۱۶۷.



# وخت؛ د برخلیک خاموشه قاضي او یوه نا پېژندل شوې، خو بې ساري پانګه ده

مولوي میر محمد نبي "برهاني"
د کانونو او پټرولیم وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمر

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ وَكَفٰى، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفٰى، أَمَّا بَعْدُ: فاتقوا الله عباد الله، واعلموا أن الوقتَ نفَسُ الحياة، ورأسُ مالِ الإنسان، وميدان عمله، ومزرعة آخرته، وسرُّ نجاته أو سببُ خسرانه. فيه تظهَرُ المقادير، وتُوزَنُ الأعمال. وهو أمانةٌ مودَعة، وسؤالٌ منتظر؛ فمَن عمَّره بالطاعة فقد ربح وفاز، ومن أضاعه في الغفلة فقد خاب وخسر. فاغتنموا ساعاتكم قبل أفولها، فإنها إن مضت لا تعود، ولا تُعوَّض. والسعيدُ من جعل زمنه سلَّمًا إلى رضوان ربِّه. اللهم بارك لنا في أوقاتنا، وأعنّا على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك.

### سریزه: وخت؛ د عزت بنسټ او د زوال خبرداری

وخت د انسان د ژوند تر ټولو ستره پانګه او قیمتي شتمني ده. دا یوازې د ساعتونو تېرېدنه نه ده، بلکې د برخلیک ټاکونکی او د امت د عزت بنسټ دی. د ملت لوړتیا او زوال له همدې سره تړلی دی. کله چې دا ارزښتمن نعمت ضایع شي، کمزوري رامنځته کیږي او همدا کمزوري امت د ذلت کندې ته ټېل وهي. د وخت ضایع کول یوه عادي تېروتنه نه ده، بلکې د زوال پیل دی.

دا پټ ځواک د بدلون سرچینه، د ژوند ستره ازموینه او د بریا کیلي ده. همدغه ځواک دی چې تمدنونه جوړوي او یا یې ړنګوي، بریاوې راوړي او یا ماتې زېږوي. د وخت قدر کول د راتلونکي بریا تضمینوي، خو غفلت او بې‌پروایي بیا ناکامي زېږوي؛ نو د وخت سم مدیریت یوازې یوه دنده نه، بلکې د عزت او سرلوړۍ لار ده. عمر د دنیا او آخرت ترمنځ پُل دی. او همدا بهیر د انسان او تقدیر ترمنځ هغه پټه او ژوره اړیکه ده چې هره شېبه یې زموږ سبا انځوروي.

دا هغه شتمني ده چې له لاسه وتلې یوه شیبه یې هم بېرته نه راګرځي، که څه هم ټوله نړۍ یې د راګرځولو هڅه وکړي. که ارزښت یې ونه پېژنو، فرصتونه له لاسه ورکوو، له ناکامۍ، اقتصادي ستونزو، ذهني فشار او ټولنیزې بې‌باورۍ سره مخ کېږو او پرمختګ مو ټکنی کېږي؛ خو که یې سم مدیریت کړو، موخې ته رسېږو، شخصیت مو پیاوړی کېږي او ژوند مو نظم او بریا خپلوي.

اسلام وخت ته ځانګړی مقام ورکړی؛ قرآن کریم او نبوي سنتو یې ارزښت په بېلابېلو لارو روښانه کړی او انسان یې د هرې شېبې پر وړاندې مسوول بللی دی. نو وخت امانت دی، مسوولیت دی او د ارادې ازموینه ده. همدا ننۍ شیبه د سبا د عزت یا حسرت بنسټ اېښودونکې ده.

دا لیکنه د قرآن او حدیث په رڼا کې د وخت ارزښت او زموږ مسوولیتونه روښانه کوي، د وخت د ضایع کولو پایلې بربنډوي، د هغه ځانګړنې څرګندوي، د سترو علماوو حکیمانه ویناوې رانغاړي او د بریا او ناکامۍ رازونه په لنډ او علمي ډول څېړي.

### د وخت تعریف

وخت د لړۍ او ډېرې مودې لپاره کارېدونکی عام نوم دی چې د عصر او زمان معنا افاده کوي(۱).

### د وخت ځانګړنې

وخت یو لوری لري او هېڅکله بېرته نه راګرځي، نه لیدل کیږي خو ژور احساسیږي، نه ښکاري او نه تم کېږي بلکې پرله‌پسې تېرېږي. ارزښت یې هغه مهال څرګندېږي چې له لاسه ووځي، د انسان ژوند، پرمختګ او زوال له وخت سره تړلي دي.

### بنسټیز ټکي

د وخت ارزښت، د وخت نه ضایع کول، اغیزمن مدیریت، د لومړیتوبونو ټاکل، ارزښتمند کارونه پېژندل، د بریالیو خلکو عادتونه.

پرله‌پسې زده‌کړه: هره شېبه د پوهې او مهارت د ترلاسه کولو فرصت وګرځوئ؛ څکه ملتونه د علم په ځواک لوړېږي.

### لنډیز

وخت د ژوند بنسټ دی. د انسان بریا او ماتې، پرمختګ او ناکامي ټول له همدې الهي پانګې سره تړلي دي. دا هغه شتمني ده چې پر ټولو په مساوي ډول وېشل شوې، خو ترې ګټه اخیستل د عقل، همت او تدبیر کار دی. څوک چې دې نعمت ته درناوی کوي، خپل برخلیک لوړوي؛ څکه هره شېبه یا د جنت پر لور ګام دی او یا د جهنم پر لور.

د کایناتو پیدایښت او د مخلوقاتو بدلون د ازلي تقدیر له ټاکلي مهال سره سم ترسره کېږي. دا بهېدونکې لړۍ د هېچا لپاره نه درېږي؛ انبیاء کرام علیهم السلام هم د همدې نظم پابند وو او تر ټولو ډېر یې د وخت حرمت ساته.

په تعلیمي، مسلکي او ټولنیز ډګر کې پیل کوونکي ډېر وي، خو منزل ته رسېدونکي لږ؛ څکه ډېر خلک دا قیمتي پانګه ضایع کوي او بریا هغو سره مل ده، چې له دې سرمایې سره وفادار پاتې شي. چا چې ترې سمه استفاده وکړه، ویاړ یې وګاټه؛ او چا چې ضایع کړه، ډېر څه یې له لاسه ورکړل. دا د اتلانو وسله ده؛ د همدې په زور تاریخ فتح کېږي او د همدې په بایللو هر څه له لاسه وځي.

د وخت ډېر قدر، ډېرې لاسته‌راوړنې رامنځته کوي. له همدې امله فقهاوو د وخت په اړه ژور بحثونه کړي دي، څکه دیني او دنیاوي چارې ورسره تړلې دي: لکه لمونځ، روژه، زکات، سرسایه، حج، د عرفي ورځ، اخترونه، د زنانه وو میاشتنی احکام، معاملات، طلاق، عتاق او بې‌شمېره نور مسائل ټول د وخت پر بنسټ ولاړ دي. نو دا بهېدونکې سرمایه یوازې د ساعت ستنې نه دي؛ بلکې د بریا معیار او پوله ده، څوک چې دا وپېژني، هم دنیا ګټي او هم آخرت.

### تفصیل

وخت ضایع کول د مسلمانانو د ذلت او محتاجۍ له اساسي لاملونو څخه دی؛ خو له بده مرغه زموږ په ټولنه کې ډېری خلک د وخت ارزښت نه پېژني. ویل شوي چې: «وخت سره زر دی»، خو په حقیقت کې وخت تر سرو زرو هم قیمتي دی؛ څکه سره زر که له لاسه ووځي، بېرته ترلاسه کېدای شي، خو تېر شوی وخت بیا نه راګرځي یعنې دا تاوان نه جبران کیږي. د وخت د ضایع کولو له امله اسلامي ټولنه د ژوند په ګنو ډګرونو کې وروسته پاتې شوې او دښمن پرې غالب شوی دی.

تر هغه چې زموږ اسلافو د وخت قدر کاوه، اسلامي نړۍ برلاسي او مخکښه وه؛ خو کله چې مسلمانان په بې‌ګټې کارونو بوخت شول او خپل وخت یې ضایع کړ، عزت یې په ذلت بدل شو. آن داسې حالت ته ورسېدو چې د ځینو اسلامي ملکونو شتمنۍ د اسلام د دښمنانو په ګټه کارېږي، او ځینې مشران د پردیو په فکري روزنه کې لوییږي او بیا پر مسلمانانو تپل کېږي؛ چې ورځ تر بلې له بېلابېلو ستونزو سره مخ کېږو.

خو لا هم هیله ژوندۍ ده. که زموږ ځوانان همدا نن حقیقت درک کړي، خپل هدف وپېژني، په اخلاص او زیار کار وکړي او وخت خپله ستره پانګه وبولي، نو اسلامي امت به حتماً د زوال له کندو څخه د عروج لوړو څوکو ته وخېژي. الله تعالی زموږ ځوانانو ته بې بدیله استعدادونه او امکانات ورکړي؛ خو اوسنۍ ستونزې د ناسمې استفادې پایله ده. موږ خپلې وړتیاوې یا معطلې پرېښې، یا مو د نورو په ګټه کارولې، او کله ناکله آن زموږ پر ضد استعمال شوې دي. د دې حالت مخنیوی تر ټولو اړین او ضروري دی.

د بېلګې په توګه: که دیني علماء د خپلمنځي اختلافاتو پر ځای علم، دعوت او د ټولنې اصلاح ته ملا وتړي، د امت دردونه تشخیص او درملنه یې وکړي، د پوهاوي کچه به لوړه او ټولنه به اصلاح شي.

او که ډاکتران، انجینران او نور مسلکي کسان په اخلاص او د وخت په ارزښت پوهېدو سره کار وکړي، خپل مهارتونه د شریعت د لارښوونو په رڼا کې وکاروي، امت به په طب، صنعت او ټکنالوژۍ کې پر ځان بسیا شي او د نورو له محتاجۍ به خلاص شي؛ بلکې نور به ورته اړ وي او د تېر په څېر به خپل ځوانان د زده‌کړو لپاره اسلامي نړۍ ته رالېږي.

خو په یو شرط: موږ باید د وخت رښتینی ارزښت وپېژنو؛ ځکه همدا وخت یا امت راپاڅوي او یا یې لا ژورې کندې ته غورځوي.

## د وخت ارزښت

وخت د ژوند نه ستړې‌دونکې ساه ده؛ د ژوند روان کاروان دی، نه تم کېږي او نه ستنېږي. دا الهي امانت په چوپتیا تېرېږي، خو د انسان برخلیک په زغرده لیکي. وخت د خدای تعالی پټه خزانه ده؛ نه لیدل کېږي، خو هر څه بدلوي. خبرې نه کوي، خو تاریخ پرې خبرې کوي.

وخت د انسان د عزت او ذلت ترازو دی؛ همدا وخت ملتونه تر عرش رسوي او یا یې تر فرش غورځوي. هره بریا د وخت په سم کارولو زېږېدلې او هره ماتې د وخت په ضایع کولو رامنځته شوې ده.

نن د عمل میدان دی او سبا د حساب ورځ. څوک چې د وخت قدر ونه پېژني، د افسوس اوږده زنځیرونه به یې پښې وتړي. وخت د توري په څېر دی؛ یا به پرې لار پرانیزې او یا به د غفلت په لاس پرې پرې کېږې. دا د غیرت میدان دی؛ زړور ترې تاریخ جوړوي او غافل پکې ورکېږي. ملتونه د وخت په قدر ژوندي پاتې کېږي، او بې‌پروا خلک د وخت په طوفان کې ډوبېږي او د تل لپاره له منځه ځي. هره شېبه د ژوند پانګه ده؛ که یې تش پرېږدو تاوان دی، او که یې وساتو بری دی.

نن چې ستا په لاس کې دی، سبا خوب دی. هوښیار هغه دی چې د نن له هرې ساه ګټه واخلي او خپل آخرت جوړ کړي.

وخت ستاسو تر ټولو ارزښتناکه پانګه ده. همدا وخت د بریا، درناوي او اغېزمنتیا بنسټ جوړوي، که په فردي ژوند کې وي او که په ټولنیز ژوند کې. د وخت سم مدیریت دا معنا لري چې انسان له فرصتونو د ودې، زده‌کړې او ګټورو کارونو لپاره سمه ګټه واخلي، تر څو د عمر له ضایع کېدو او وروسته له پښېمانۍ ځان وساتي.

ځکه زموږ هره شېبه څارل کېږي او د قیامت په ورځ به الله تعالی د هغې په اړه پوښتنه کوي، لکه څنګه چې فرمايي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولـئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً﴾ ژباړه: او مه کوه پیروي(تعقیب) د هغه کار چې نه وي تا ته په هغه پوه (قول وي که فعل[۲]) بېشکه غوږ او سترګه او زړه هر یو له دغو (درې واړو) دی له هغه څخه پوښتنه کړی شوی (په قیامت کې چې تا په دنیا کې ولې ګناه کوله) دا آیت د انسان د ژوند د هرې شېبې مسوولیت او ارزښت څرګندوي.

**د وخت ارزښت په فردي ژوند کې:** وخت د انسان د بریا او شخصیت جوړونې بنسټ دی. د وخت سم مدیریت د کار اغېزمنتیا زیاتوي، ذهني فشار کموي او د شخصي او مسلکي موخو ترلاسه کول اسانه کوي. همدارنګه، له ژوند څخه د خوښۍ او رضایت کچه لوړوي. د انسان شخصیت د هغه د وخت له کارونې څخه څرګندېږي؛ زده کوونکي چې خپل وخت په زده کړو لګوي، بریالي کېږي، خو هغه څوک چې وخت ضایع کوي، پایله یې پښېماني وي. سستي، ځنډ او بې‌پروایي د ناکامۍ ستر لاملونه دي.

**د وخت ارزښت په ټولنه کې:** وخت ته درناوی په ټولنه کې نظم رامنځته کوي، متقابل احترام پیاوړی کوي او اړیکې ټینګوي. منظم خلک منظمې ټولنې جوړوي او هغه ټولنې چې د وخت پابندي کوي، ژر پرمختګ کوي. برعکس، چېرې چې وخت ته ارزښت نه ورکول کېږي، وروسته پاتې کېدل حتمي وي. د پرمختللو ملکونو د بریا یو مهم راز همدا د وخت سم مدیریت دی.

**معنوي او دیني اړخ:** په ټولو الهي دینونو کې وخت د انسان د عمر تر ټولو قیمتي امانت بلل شوی دی. انسان اړ دی چې دا الهي نعمت په عبادت، نېکو کارونو او ګټورو چارو کې ولګوي. د وخت ضایع کول سخت غندل شوي دي رسول الله ﷺ خبرداری ورکړی چې له انسانه به د خپل عمر پوښتنه کېږي چې په څه کې یې تېر کړی دی همداراز ویل کېږي:«د وخت واګې د انسان په لاس کې دي؛ دا چې وایو وخت نه لرم، معنا یې دا ده چې نه یې غواړم».

**د وخت د ارزښت په اړه د ځینو سترو علماوو عملي او ژبني آثار**

۱ــ د نړۍ قاضي‌القضات، امام ابو یوسف رحمه الله، د خپل زوی د وفات پر مهال د تدفین چارې خپلوانو ته وسپارلې، څو د خپل استاد امام ابو حنیفه رحمه الله له درس څخه پاتې نه شي.

۲ــ اشرف علي تهانوي رحمه الله له زرو زیات کتابونه ولیکل؛ دا د وخت د نه ضایع کولو برکت و؛ له علامه یوسف القرضاوي رحمه الله څخه د ده د ډېرو تألیفاتو راز وپوښتل شو. ویې ویل: «زه د ضایع کولو لپاره وخت نه لرم؛ له هرې شېبې یې پوره ګټه اخلم».

۳ــ خلیل بن احمد بصري رحمه الله به ویل: «تر ټولو درونده ساعت راباندې د خوراک دی؛ ځکه زما له عمره قیمتي شېبې اخلي»؛ تر دې هم تود احساس د امام فخرالدین رازي رحمه الله و، هغه به سوګند کاوه: «قسم په خدای! د خوراک پر وخت ډېر افسوس کوم، ځکه وخت تر هر څه ګران دی.»؛ او تر ټولو حیرانوونکی دا چې: د امام بخاري او امام مسلم استاد، عبید بن یعیش رحمهم الله، دېرش کاله په خپل لاس ډوډۍ ونه خوړه؛ خور به یې مړۍ ورکوله او ده به حدیثونه لیکل قلم یې روان و او وخت یې اسیر کړی و.

۴ــ خطیب بغدادي رحمه الله به آن د تګ پر مهال کتاب مطالعه کاوه. ګامونه به روان وو خو سترګې به یې له پاڼو نه جلا کېدې تر دې هم ستره کارنامه د ستر مؤرخ ابن عدیم الحلبي رحمه الله د یادونې وړ ده هغه به آن په سفر کې پر سورلۍ سپور و او قلم به یې چلېده(کتاب به یې لیکه) [۳].
لکه وخت یې چې مهار کړی وي او تر ټولو عجیبه دا چې امام ثعلب نحوي رحمه الله چې نوي(۹۰) کلن و، د تګ پر مهال به یې هم کتاب لوست؛ تر دې چې یوه ورځ د مطالعې په حال کې پر ناهمواره ځمکه ولوېد او هماغه لوېدنه یې د وفات لامل شوه.

۵ــ ابو محمد عبد الرحمن ابن شریح انصاري رحمه الله وایي: «ما ابو القاسم بغوي رحمه الله ته حدیثونه روایت کول، سر یې زما پر زنګنو ایښی و، ما ترې وپوښتل: «نور هم ووایم؟» ځواب یې رانه کړ. چې مې وخوځاوه ومې لیدل چې وفات شوی و.»

۶ــ امام نووي رحمه الله وایي: «دوه کاله مې پر ځمکه اړخ نه دی لګولی»؛ په شپه او ورځ کې به یې یو ځل خوراک او څښاک کاوه.

۷ــ شمس الأیمه امام سرخسي رحمه الله د خوارلس کلن بند پر مهال د څاه له تل څخه خپلو شاګردانو ته درس ورکاوه او هغوی به لیکل، په همدې موده کې یې د فقهي ستر اثر (المبسوط) په دېرش ټوکو کې ولیکه.

۸ــ شیخ جمال الدین القاسمي رحمه الله د یوې قهوه‌خانې مخې ته ودرېد؛ هلته یې ولیدل چې ځینې کسان په لهو او لعب بوخت دي. په تأسف یې وویل: «کاشکې وخت پلورل کېدای، نن به مې د دغو ټولو کسانو وختونه پېرلي وای!»

۹ــ د شپږمې پېړۍ ستر عالِم علامه ابن الجوزي رحمه الله خپل زوی ته لیکي: «زویه! پوه شه چې ژوند له څو ساعتونو جوړ دی او ساعتونه له څو ساه ګانو. هره ساه یوه خزانه ده؛ پام کوه چې یوه ساه هم درڅخه ضایع نه شي؛ ګنې د قیامت په ورځ به خپله خزانه تشه ووینې او پښېمانه به شې. خپل وخت ته ځیر اوسه چې په څه مصرفیږي او ژوند دې تر ټولو غوره کارونو ته وسپاره. د قبر صندوق ته داسې توښه ولېږه چې کله ورشي نو پرې خوشحاله شي[۴].»

۱۰ــ استاد محمد قطب رحمه الله به ویل: «زه د معمول له مخې هره ورځ تر دوو سوو ډېر مخونه لولم؛ هغه ورځ چې سل مخه ونه لولم، ضایع یې ګڼم.» تر دې عجیب: صفی‌الدین الحلّي د خپل استاد، ستر عالِم ابو حیان الأندلسي رحمه الله په اړه وایي:«ما هغه هېڅکله بې‌کاره ونه لید؛ یا به یې څه لوستل، یا به یې لیکل، او یا به یې شاګردانو ته درس کاوه.»

### د وخت د ارزښت په اړه زریني او جذابې خبرې

- که د وخت قدر غواړې، مهمو کارونو ته لومړیتوب ورکړه.
- د ځان درناوی د وخت له درناوي پیلېږي؛ نو که وخت ته ارزښت ورنه کړې، ځان ته دې ارزښت نه دی ورکړی.
- بریا د وخت له سم استعماله پیلېږي؛ څوک چې وخت د زده‌کړې، هڅې او ودې لپاره کاروي خپلو موخو ته رسېږي.
- ناکامي له هغه ځایه پیلېږي چې وایو: «وخت لرو».
- یوازې وخت دی چې حقیقت څرګندوي؛ هېڅوک د وخت په څېر حقیقت نه شي درښودلای.
- وخت په بېړه تېرېږي، خو بې‌اغېزې نه پاتې کېږي.
- وخت تر ټولو هوښیار ملګری دی؛ خو زموږ هوښیارتیا د هغه په سم کارولو پورې تړلې ده.
- همدا د وخت تېرولو لاره ده چې ستا شخصیت تعریفوي.
- وخت ارزښتناک دی؛ نو له سمو انسانانو سره یې تېر کړه.
- تر ټولو غوره ډالۍ چې یو چا ته یې ورکوې، وخت دی؛ ځکه ته د خپل ژوند نه راګرځېدونکې برخه ورکوې.
- وخت تر ټولو قیمتي شی دی؛ نه یې مالک کېدای شې او نه یې ساتلای شې، یوازې یې سم کارولای شې.
- وخت نه بدلېدونکې خزانه ده؛ پیسې ګټلی او بایللی شو، خو وخت یوازې بایللی شو. ځکه تېر وخت هېڅکله نه راګرځي.
- ستونزه زموږ د عمر کموالی نه دی، ستونزه دا ده چې له شته وخت څخه سمه ګټه نه اخلو؛ ژوند که سم وکارول شي، کافي اوږد دی.
- وخت هغه مساوي سرچینه ده چې ټولو ته ورکړل شوی؛ خو ارزښتناکه خلک یې نه ضایع کوي.
- وخت (عمر) هغه څه دي چې تر ټولو ډېر یې غواړو، خو تر ټولو ډېر یې ضایع کوو.
- که ژوند درته ګران وي، وخت مه ضایع کوه؛ ځکه ژوند له وخت څخه جوړ دی. لقمان حکیم صاحب څه ښکلي فرمایلي: «د نن کار سبا ته مه پرېږده»؛ یعنې خپل وخت مه ضایع کوه.
- وخت محدود څواک دی؛ هر انسان په ورځ کې یوازې (۲۴) ساعته لري نو باید په مهمو کارونو یې ولګوي.
- ښه خبره دا ده چې د وخت د کارولو واک ستا په لاس کې دی.

### که وخت ضایع کړو، څه پېښېږي؟

۱ــ فرصتونه له لاسه ورکوو: مهم فرصتونه تر وخت پورې تړلي وي؛ شیبه چې تېره شي، بیا نه راګرځي.

۲ــ ناکامي رامنځته کېږي: ځنډ او بې‌نظمي د ژوند په ټولو برخو کې د ماتې او ناکامۍ لامل ګرځي.

۳ــ ذهني فشار او پښېماني مو زیاتېږي: د وخت له ضایع کېدو وروسته انسان ځان ملامتوي او له ذهني فشار سره مخ کېږي.

۴ــ باور مو له منځه ځي: هغه کسان چې وخت ته ارزښت نه ورکوي، نور پرې باور نه کوي، نه د کار په ساحه کې او نه په ټولنه کې.

۵ــ اقتصاد مو زیانمنوي: وخت ضایع کول تولید کموي او د اقتصاد ملا ماتوي.

۶ــ پرمختګ مو ټکنی کوي: پوهه، مهارت او تجربه د وخت په سم مدیریت سره وده کوي او بې‌پروايي دا پرمختګ دروي.

۷ــ شخصیت مو کمزوری کوي: سستي او بې پروايي انسان بې مسوولیته ښکاره کوي او د شخصیت بنسټ لړزوي.

۸ــ ټولنیزې اړیکې مو کمزورې کوي: که وخت ناسم ولګول شي د کورنۍ او ملګرو حقونه له پاللو پاتې کیږي؛ په پایله کې نارضایتي او بې‌باوري رامنځته کېږي، اړیکې سړیږي او درز پیدا کیږي.

۹ــ موخې لرې کیږي: ستر هدفونه په کوچنیو پرله‌پسې ګامونو ترلاسه کېږي؛ د وخت ضایع کول مو هدف لرې کوي.

۱۰ــ روحي ګډوډي رامنځته کېږي: بې‌برنامې ژوند ستړیا، بې‌حوصلګي او نااميدي زیږوي.

۱۱ــ پر ځان مو باور کمېږي: دندې چې پر وخت ترسره نه شي، د مسوولیت احساس کمېږي؛ په پایله کې پر ځان باور کمېږي.

۱۲ــ د نورو تر واک لاندې به راځي: څوک چې خپل وخت نه سمبالوي، نور یې وخت اداره کوي نو د هغو تر واک لاندې به راځي او که خپل وخت سمبال کړي، هېڅوک یې له کمزورۍ ناوړه ګټه نه شي اخیستلی. نو نه به څوک زموږ په کورنیو چارو کې نفوذ وکړي او نه به زموږ پر تعلیم، اقتصاد، سیاست او کلتور واکمن شي. د وخت قدر د خپلواکۍ ساتونکی دی.

**نچوړ:** وخت د ژوند پانګه ده؛ که یې وساتو، دنیا او آخرت مو رڼا کېږي او که یې ضایع کړو، خپله هستي له منځه وړو.

**د بریالیو خلکو ګډ صفت: وخت‌پېژندنه**

د ټولو ځانګړو او بریالیو خلکو ترمنځ یو صفت مشترک دی: وخت‌پېژندنه. څوک چې دا هنر لري، له نورو لړ اضطراب او ستړیا احساسوي. دوی سره له ډېرې بوختیا، تفریح هم لري او زیاتره پُرانرژي ښکاري، که څوک ډېر وخت ولري خو کارونه سم نه شي سمبالولای، لامل یې د وخت ضایع کول دي. کله چې ځان ورسره پرتله کړې، ښايي پوښتنه درته پیدا شي: ولې زه لړ کارونه لرم، خو بیا هم خپلو دندو ته نه رسېږم؟ ځواب روښانه دی: بریالي خلک خپل وخت ته پوره پاملرنه کوي. هره شېبه یې حساب شوې وي او هره دنده په مناسب وخت ترسره کوي.

وخت‌پېژندنه نظم دی او نظم د بریا لار ده. وخت‌پېژندنه دا نه ده چې انسان ځان بې‌راحته کړي، بلکې دا ده چې کارونه پر خپل ټاکلي وخت او سم ځای ترسره کړي. پر ژمنه ولاړ او مسوولیت منونکي خلک یې ښکاره بېلګې دي. په بله وینا، پر وخت اوسېدل یعنې کارونه پر ټاکلي وخت سرته رسول. وخت‌پېژندونکي خلک کارونه نه ځنډوي، خو د خوب، خوراک او استراحت حق هم نه هېروي. وخت‌پېژندنه د بریا وسله ده؛ څوک چې وخت وګټي، ژوند ګټي.

بریالي خلک د وخت له ارزښت ښه خبر دي. مه هېروئ چې وخت پېژندنه یوازې په مسلکي ژوند پورې محدوده نه ده؛ بلکې د انسان په شخصي ژوند کې هم ژور اغېز لري او نورو ته مثبت احساس لېږدوي. په شخصي ژوند کې یې مهمې ګټې په لاندې ډول دي:

**متقابل درناوی:** وخت‌پېژندنه د انسان شخصي ارزښت لوړوي او له نورو سره د متقابل درناوي فضا رامنځته کوي. کله چې تاسې د لیدنو او ژمنو لپاره پر وخت چمتو اوسئ، دا ښیي چې تاسې نورو ته ارزښت ورکوئ، او په پایله کې هغوی هم تاسې ته درناوی کوي.

**د باور ترلاسه کول:** وخت‌پېژندنه ستاسې اعتبار لوړوي او خلک پر تاسې او ستاسې پر خبرو او ژمنو اسانه باور کوي. په عمومي ډول، وخت‌پېژندونکي کسان د خلکو په منځ کې زیات اعتبار او باور لري.

**د ژوند د کیفیت ښه کېدل:** د وخت‌پېژندنې ارزښت هغه مهال ښه څرګندېږي چې د انسان د ژوند کیفیت لوړ شي. وخت‌پېژندونکي کسان عموماً منظم، بریالي او هوسا ژوند لري. دوی له خپل وخت او توان څخه غوره استفاده کوي، کارونه پر وخت سرته رسوي او خپلې دندې په ټاکلي وخت بشپړوي. بر عکس، ناپوه کسان خپل ارزښتناک وخت په عبثو چارو تېروي. د وخت په ارزښت نه پوهېږي او یوازې د وخت تېرولو لپاره بې‌ګټې وسایل او ځایونه لټوي.

**سپارښتنه!**

په لنډه توګه، وخت د انسان د ژوند تر ټولو ستره پانګه ده. څوک چې وخت وساتي، ژوند به یې خوندي وي؛ او څوک چې وخت ضایع کړي، ژوند به یې ضایع شي. نو راځئ خپل وخت د علم، اخلاقو، کار او ښېګڼو لپاره وکاروو، تر څو باعزته او بریالی ژوند ولرو. تر دې مهاله چې هر څه شوي هغه شوي؛ باید پاتې شېبې ارزښتمنې وبولو او په عبثو کارونو یې برباد نه کړو.

که د دنیا او آخرت بریا غواړئ، خپل وخت منظم کړئ، ګټورو کارونو ته مخه کړئ، هدف وټاکئ، د اسلافو تاریخونه ولولئ او له بې‌ګټې ملګرو واټن وساتئ. تل دا په یاد ولرئ چې مونږ دې نړۍ ته د لنډ سفر لپاره راغلي یو[۵] او یوه ورځ به د خپل رب جل جلاله حضور ته د حساب لپاره دربرو. او تر هغه به مو قدم تر قدم تېر نه شي، تر څو چې پوښتل شوي نه یو «عمر او ځواني دې په څه کې تېر کړل؟.» نبي کریم ﷺ فرمایلي: «لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ» (ترمذي) ژباړه: د قیامت په ورځ به د بنده قدمونه تر هغه ونه خوځیږي چې د خپل عمر په اړه پوښتنه ترې ونه شي چې په څه کې یې تېر کړی.

نو خپل وخت مه ضایع کوئ؛ ځکه وخت د ژوند تر ټولو ستر نعمت او نه جبرانېدونکې خزانه ده؛ هېڅ بدیل نه لري؛ که له لاسه ووځي، بیا هېڅکله نه راګرځي.

**د عمر لنډوالی او د محمدي امت د وخت برکت:** د دې امت عمرونه لنډ دي، خو الله تعالی په خپل ستر رحمت سره دا تاوان جبران کړی دی. هغه ځینو شېبو او موسمونو ته ځانګړی فضیلت ورکړی، څو د اخلاص له برکته د ساعتونو عمل د کلونو، بلکې د ټول عمر ارزښت ومومي. د بېلګې په توګه: رمضان یوازې یوه میاشت نه ده، بلکې دا د عمرونو د تاوان جبران دی. د قدر شپه؛ یوه شپه ده خو له زرو میاشتو غوره ده، دا شپه د ټول عمر پانګه ده، که د عبادت لپاره وېښ یې نو بخت دې هم وېښ دی؛ د ذوالحجې لس ورځې د بې‌ساري اجر خزانه ده؛ لږ عمل ستر بدلون را منځته کوي. الله تعالی موږ ته وښوده چې د عمر اوږدوالی مهم نه دی، بلکې برکت لرونکې شېبې ارزښت لري. له دغو مبارکو وختونو څخه یوه هم د جمعې ورځ ده. په همدې ورځ کې د قبلېدو یوه پټه شېبه شته.

**رسول الله ﷺ فرمايي:** «يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ سَاعَةٌ لا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي، يَسْأَلُ اللَّهَ تَعَالَى شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ.» وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا **ژباړه:** «د جمعې په ورځ یوه داسې شېبه شته، که مسلمان بنده پکې ولاړ وي لمونځ کوي، له الله تعالی نه څه وغواړي، الله جل جلاله به یې حتماً ورکړي». او هغه مبارک ﷺ په لاس د هغې لنډوالي طرف ته اشاره وکړه[۶]. دا شېبه موږ ته پیغام راکوي: **وخت مه ضایع کوه! کېدای شي همدا یوه لحظه ستا د دنیا او آخرت برخلیک بدل کړي.**

نو راځئ چې برکتي وختونه ژوندي وساتو، شېبې په عبادت او ګټورو کارونو بدلې کړو، او خپل لنډ عمر د تل لپاره ارزښتمن کړو.

## د وخت ارزښت د قرآن کریم په هنداره کې

۱ــ اسلام وخت د الله تعالی له سترو نعمتونو او امانتونو څخه ګڼي. الله تعالی په بېلابېلو سورتونو کې پر وخت قسم کړی دی او الله تعالی چې پر څه قسم کوی هغه د خورا زیات اهمیت او پاملرنې وړ وي نو پر وخت قسم کول د هغه د ستر ارزښت څرګندونه کوي: لکه: ﴿وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ ژباړه: قسم دی په عصر چې ببشکه انسان خامخا په زیان کې دی (په صرف کولو د عمر سره په فانیه وو مطالبو کې) مګر(خو زیانکاران نه دي) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه(عملونه) او وصیت یې کړی وي یو له بله په حقه سره چې ایمان دی او وصیت یې کړی وي یو له بله په صبر(په طاعت او مصیبت او له معصیته[۷]. دا سورت څرګندوي چې د وخت ضایع کول تاوان دی، او د هغه سم استعمال نجات دی نو که وخت په ایمان او نېکو عملونو کې ونه لګول شي، انسان زیانمن کېږي.

۲- همداراز یې په سهار، غرمه، ورځ او شپه قسمونه کړي؛ الله تعالی فرمايي: ﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ﴾ ژباړه: قسم دی په فجر(صباح) باندې او په شپو لسو باندې او په جفت باندې او(قسم دی) په طاق باندې او په شپه باندې کله چې ځي راځي توره تیاره کیږي[۸].

﴿وَالضُّحَىٰ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ﴾ ژباړه: قسم په څاښت(چې روښانه دی) او قسم دی په شپه کله چې تیاره شي(او پټ کړي اشیاء په تیاره خپله کې[۹]. ﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ﴾﴿وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ﴾ ژباړه: قسم دی په شپه کله چې پټ کړي(هر شی په تیاره خپله سره) او(قسم دی) په ورځ باندې کله چې روښانه شي[۱۰]. ﴿وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا﴾ ژباړه: او(قسم دی) په ورځ باندې کله چې ښکاره کاندي دغه(لمر) او (قسم دی) په شپه باندې کله چې پټ کړي هغه(لمر) په تیاره خپله کې[۱۱]. دا قسمونه انسان ته د وخت ارزښت ور زده کوي او دا پیغام ورکوي، چې د ژوند هره لحظه مهمه ده.

**۳ـ د نعمتونو د حساب آیتونه:** قرآن کریم انسان ته خبر ورکوي، چې د نعمتونو په اړه به پوښتنه ترې کېږي:﴿ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾ ژباړه: بیا به خامخا پوښتني وشي له تاسې څخه هرومرو (خامخا) په دغې ورځې کې له(حقایقو د) نعمتونو هوساینو(راحت) نه(چې درکړی و تاسې ته په دنیا کې[۱۲].) مفسرین وایي چې وخت او روغتیا له سترو نعمتونو څخه دي.

**۴ـ د دنیا د ژوند لنډوالی:** قرآن کریم د دنیا ژوند لنډ او تېرېدونکی معرفي کوي:﴿إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَامُ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ﴾ ژباړه: بېشکه همدا خبره ده چې مثال د دې ژوندون لږ خسیس (په ژر تیریدلو کې) په شان د اوبو دی چې نازلې کړې دي مونږ هغه له (طرفه د) آسمانه نو خلط شي په (سبب د) دې اوبو سره (هر قسم) زرغونه د ځمکې له هغه(قسم) چې خوري یې بنیادمان(لکه غلې میوې سابه) او چارپایان(لکه انواع د وښو) تر هغه پورې کله چې واخیست ځمکې زینت خپل او ښه ښایسته شي(په اقسام د نباتاتو، اشکالو او رنګونو) او ګمان وکړي خاوندان د دې(ځمکې) چې بېشکه دوی قادر دي(په هر شانتې ګټه(فایده) اخیستلو سره) په دې ځمکه باندې ناڅاپه راشي دې(ځمکې) ته امر(حکم) زمونږ د شپې یا د ورځې(په خرابی د دې غلو او میوو) نو وګرځوو مونږ دغه(فصل د ځمکې) لکه ریبلی شوی(له بیخه لوړولی) ګواکې نه و(دغه کښت په دغې ځمکې کې) پرون [۱۳]. دا آیتونه موږ ته را زده کوي چې دنیایي ژوند لنډ دی نو باید خپل وخت په داسې کارونو ولګوو چې د آخرت لپاره ګټه ولري.

**۵ـ د شپې او ورځې بدلون؛ د عبرت او شکر فرصت:**﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴾ ژباړه: او همدا(الله تعالی) هغه(ذات) دی چې ګرځولې یې دی شپه او ورځ (سره مخالف یا خلیفه یو د بل) پرله پسې د پاره د هغه چا چې اراده لري د دې چې یاد کړي(نعمتونه د رب ستا او فکر وکړي په مصنوعاتو د الله تعالی) یا اراده لري د شکر ایستلو [۱۴]. دا آیت موږ ته را زده کوي چې هره شپه او هره ورځ د فکر، بیدارۍ او شکر نوې دروازه ده. وخت یوازې د تېرېدو لپاره نه دی؛ بلکې د اصلاح، توبې او نېکو عملونو لپاره الهي فرصت دی.

په قرآن کریم کې ډېر نور آیتونه هم شته چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د وخت(عمر) لنډوالي او د ژوند د فرصت اهمیت بیانوي.

**۱ـ د عمر د ضایع کېدو افسوس:**﴿وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ﴾ ژباړه: او دوی به نارې سورې وهي په دغه دوزخ کې (او داسې به وایي): اې ربه زموږ! (یو کرت) راوباسه موږ (بېرته دنیا ته څو هلته) عمل وکړو صالح نیک غیر له هغه چې وو مونږ چې کاوه به مو (پخوا له دې بد عمل[۱۵]). دا آیت ښکاره کوي چې د وخت ضایع کول به په آخرت کې ستره پښېماني وي؛ هلته به انسان د یوه بل فرصت غوښتنه کوي، خو ګټه به ونه لري.

**۲ـ د مرګ پر مهال د مهلت غوښتنه:**﴿رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ﴾ ژباړه: اې ربه زموږ! وروستی کړه(مهلت راکړه) موږ ته تر نېټې نږدې پورې چې قبوله کړو بلنه ستا او متابعت وکړو د رسولانو[۱۶]. انسان چې د مرګ حقیقت ویني، د لږ وخت غوښتنه کوي؛ خو د ژوند ورکړل شوی فرصت بیا نه راګرځي.

**۳ـ هر امت او هر انسان ټاکلی اجل لري:** ﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ ژباړه: او هر یوه امت ته یو اجل(نیټه (وخت)) شته (د مرګ یا د عذاب که ایمان رانه وړي) نو کله چې راشي اجل(نیټه(وخت)) د دوی نه به وروستی کېږي دوی(ترې) یو ساعت او نه ړومبی کېږي دوی(ترې) [۱۷]. دا آیت موږ ته د وخت د محدودیت او د ژوند د دقیق حساب پیغام راکوي.

**۴ـ ژوند او وخت د امتحان ډګر دی؛ بریا د نېک عمل په کولو کې ده:**﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ ژباړه: هغه(الله) چې پیدا کړی یې دی مرګ او ژوندون لپاره د دې چې وازمویي تاسې چې کوم یو له تاسې ډېر ښه دی د عمل له مخې (چې در کړي تاسو ته جزاء د اعمالو[۱۸].)

ښکاره شي. خو که ژوند يوه ازموينه او وخت د دې ازموينې پانګه ده او د﴿أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ څخه معلومه شوه چې بريا د عمر په اوږدوالي کې نه، بلکې د ښه عمل په کيفيت کې ده.

**قرآن کريم د وخت درې ستر اړخونه څرګندوي:**

۱ــ نعمت- چې شکر غواړي.

۲ــ امانت- چې حساب پرې کېږي.

۳ــ امتحان- چې د بريا يا ناکامۍ سبب ګرځي.

نو هره ورځ، هر ساعت او هره شېبه زموږ د برخليک په جوړولو کې ونډه لري. هوښيار هغه څوک دی، چې د وخت قدر وپېژني او د خپل عمر پانګه د دنيا او آخرت د بريا لپاره ولګوي.

**په نبوي سنتو کې د وخت اهميت**

۱ــ **وخت ستر نعمت دی؛** رسول الله ﷺ وخت د لوی نعمت په توګه معرفي کړی فرمايي:«نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ.» (بخاري) ژباړه: دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې تاواني دي: روغتيا او فارغ وخت.

۲ــ **د قيامت په ورځ د وخت پوښتنه کېږي؛** رسول الله ﷺ فرمايلي: «لا تزول قدما عبد يوم القيامة الحديث» دا حديث شريف تير شوی.

۳ــ **فرصتونه غنيمت وګڼئ؛** نبي کريمﷺ فرمايي:«اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ... وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ»(المستدرك للحاكم) ژباړه: پنځه شيان د پنځو نه مخکې غنيمت وګڼه... خپل فارغ وخت د مصروفېدو نه مخکې. نو که انسان خپل وخت د نيکو کارونو، زده کړو او عبادت لپاره وکاروي، دنيا او آخرت به يې دواړه سم شي.

۴ــ **د شپږو خنډونو تر راتلو مخکې نېکي وکړئ؛** رسول الله ﷺ فرمايلي: «بادروا بالأعمال ستًّا...»(رواه مسلم) يعنې د شپږو شيانو له راتګ مخکې نېک عملونه وکړئ(چې بيا به د عمل فرصت کم يا بند شي) همداراز: خير الناس من طال عمره وحسن عمله(رواه الترمذي) يعنې غوره انسان هغه دی چې عمر يې اوږد او عمل يې ښه وي.

**لنډه دا چې:** قرآن او سنت په څرګند ډول ښيي چې وخت د انسان له سترو نعمتونو او درنو مسووليتونو څخه دی. نو هر مسلمان بايد خپل وخت په عبادت، علم او خدمت کې تېر کړي؛ ځکه هره لحظه د قيامت په ورځ حساب لري.

**د وخت د اغېزمن استعمال لپاره اسلامي لارښوونې**

اسلام وخت امانت، پانګه او ستر فرصت ګڼي. انسان اړ دی، چې خپل عمر په ايمان، عبادت، علم او خدمت کې ولګوي. د وخت ضايع کول لوی تاوان دی، لاندې څو اړينې سپارښتنې دي؛ که عمل پرې وشي ان شاء الله د دنيا او آخرت ګټه به ورسره مل وي.

- ✔ **خپل نيت اصلاح کړه:**(وخت عبادت وګرځوه) هر نېک عمل د ښه نيت په برکت عبادت ګرځي. که زده کړه، کار، خدمت، يا تجارت د الله تعالی لپاره وي نو ټول وخت عبادت حسابېږي. هر سهار ووايه:«يا الله! نن مې ټول وخت ستا د رضا لپاره دی.»
- ✔ **لمونځونه د ورځې ستنې وګرځوه؛** اسلام وخت د عبادتونو له لارې منظم کړی دی، نو خپل ورځنی مهالوېش د لمانځه پر بنسټ تنظيم کړه د بېلګې په توګه: فجر(سهار)- د علم او پلان وخت. ظهر(ماسپښين)- د کار او توليد وخت. عصر(مازديګر)- د فکر او ارزونې وخت. مغرب(ماښام)- د کورنۍ او ذکر وخت. عشاء (ماخوستن)- د ارام او ځان جوړونې وخت.
- ✔ **هره ورځ علم ته وخت ورکړه؛** رسول الله ﷺ فرمايلي:«طلب العلم فريضة على كل مسلم» هره ورځ لږ تر لږه يو ساعت قرآن، حديث، کتاب، ژبه يا خپل مسلکي تخصص مطالعه کړه.
- ✔ **په ورځني توګه ځان محاسبه کړه؛** حضرت عمر رضي الله عنه ويلي:«حاسِبُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا» هره شپه له ځانه وپوښته: نن مې وخت په څه تېر کړ؟ څه ګټه مې ترې واخيسته؟ څه شی ضايع شول؟
- ✔ **د وخت ضايع کوونکي کارونه پرېږده؛** اسلام له بې ګټې خبرو او اعمالو منع کوي الله عزوجل فرمايي:﴿وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ﴾ ژباړه: او هغه(کسان هم بهرمن شول) چې دوی له ناکارو(بدو اقوالو بدو افعالو) څخه مخ ګرځونکي دي[۱۹]. نو له بې‌هدفه موبايل کارولو، فضول بحثونو، بې‌ضرورته مجلسونو، شايعاتو او غيبت څخه ځان وساته.

- **فرصتونه غنیمت وګڼه؛** رسول الله ﷺ فرمايلي: «اغتنم خمساً قبل خمس...» ځواني، روغتيا او فارغ وخت ستر فرصتونه دي. ځواني د علم او کار لپاره، روغتيا او فراغت د عبادت، خدمت او ځان جوړونې لپاره وکاروه.
- **لومړی ځان ته روښانه او ستر هدف وټاکه؛** ځکه بې‌موخې انسان خپل وخت او ځواک ضايع کوي. که دې موخه علم، دعوت، خدمت يا اصلاح وي، هغه په ټينګ عزم او پرله‌پسې هڅه تعقيب کړه. له ستر هدف سره خپل ورځنی ژوند هم منظم کړه. يعني خپل هدف له ورځني مهالويش سره وتړه. د بېلګې په توګه، که دې هدف د دين عالِم جوړېدل وي، نو د ورځې ځانګړي ساعتونه د علم زده کړې، د دين کار، د دنيا چارو او د ځان اصلاح لپاره وټاکه. هر کار ته ټاکلی وخت ورکړه، ځکه نظم د بريا بنسټ دی. مسلمان بايد د وخت په مديريت کې بېلګه وي. د مهالويش بېلګه: ۰۶:۰۰–۰۸:۰۰ مطالعه ۰۹:۰۰–۱۷:۰۰ کار ۱۸:۰۰–۲۰:۰۰ کورنۍ... د ورځې په پای کې خپل ځان محاسبه کړه؛ که کومه نيمګړتيا وي، هوډ وکړه چې بيا به يې نه تکراروې. په دوام، نظم او د ځان محاسبې سره به حتماً خپل هدف ته ورسېږې.
- **هدف ته د رسېدو لپاره دوامداره عمل وکړه؛** نبي ﷺ فرمايلي: «أحب الأعمال إلى الله أدومها وإن قلّ» ژباړه: الله تعالی ته هغه عمل ډېر خوښ دی چې دوامداره وي، که لږ هم وي.
- **د وخت لپاره دعا وکړه؛** نبي ﷺ به دعا کوله لکه:«اللهم بارك لي في وقتي» وخت هم د برکت محتاج دی.

### د وخت سم مديريت

د وخت اغېزمنې استفادې لپاره بايد انسان خپل ورځنی ژوند په منظم ډول پلان کړي، د مهمو او کم‌اهميت لرونکو کارونو ترمنځ توپير وکړي او له بې ګټې بوختياوو ځان وساتي. که هر کار پر خپل وخت ترسره شي، ژوند به اسانه او منظم شي. وخت‌پېژندنه ښيي چې انسان خپل ځان، نورو او د هغوی وخت ته ارزښت ورکوي. څوک چې وخت ته ارزښت نه ورکوي، ژوند ته هم ارزښت نه شي ورکولای. ټول پوهېږو چې تېر شوی وخت بېرته نه راګرځي او بيا پيل شتون نه لري. نو نن مه ضايع کوه، څو سبا دې له لاسته‌راوړنو ډک وي.

د وخت‌پابندي انسان ته منظم، باعتماده او باوقاره شخصيت ورکوي. افسوس دا چې ډېری خلک هغه وخت راويښېږي چې فرصتونه له لاسه وتلي، باور کمزوری شوی او ارمانونه يوازې په يادونو بدل شوي وي. که نن د وخت قدر وکړو، سبا به د پښېمانۍ پر ځای د وياړ احساس ولرو.

### مقايسوي څېړنه: د وخت مديريت په اسلامي فلسفه او معاصر فکر کې

مقايسوي څېړنه ځانګړی علمي ارزښت لري، ځکه د دوو فکري نظامونو بنسټونه، موخې او پايلې روښانه کوي. دلته ګورو چې اسلامي فلسفه او معاصر فکر د وخت مديريت څنګه ارزوي؟

**۱ــ د وخت اصل او سرچينه:** په اسلام کې وخت د الله تعالی ستر نعمت او سپېڅلی امانت دی. انسان د وخت مالک نه، بلکې امين دی او د عمر د هرې شېبې حساب به ورکوي. الله تعالی فرمايي:﴿ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾ خو په معاصر مديريت کې وخت يوه اقتصادي سرچينه(Resource) بلل کېږي، چې بايد ترې پوره ګټه واخيستل شي. دلته انسان د وخت مالک ګڼل کېږي او حساب يوازې د دنيايي لاسته‌راوړنو او پايلو پورې محدود وي.

**۲ــ د وخت د مديريت موخه:** په اسلام کې د وخت د مديريت اصلي موخه د الله تعالی رضا، د نفس اصلاح، لوړ اخلاق، عبادت او د خلکو خدمت دی. وخت د عبوديت او انساني کمال وسيله ده، او ستر هدف د آخرت نجات او تلپاتې بريا ده. خو په معاصر فکر کې موخه د ګټې زياتول، توليد لوړول، شتمني، شهرت او شخصي بريا ده. شعارونه يې ګټورتيا، توليد او بريا(Efficiency, Productivity او Success) دي، او تمرکز يې پر مسلکي او فردي اهدافو راڅرخي.

**۳ــ د وخت د ارزښت معيار:** په اسلام کې د وخت ارزښت د نيت، اخلاص او د عمل پر کيفيت پورې تړلی دی. لږ خو دوامدار او خالص عمل، د ډېرو بې‌اخلاصه کارونو څخه غوره دی؛ لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي:«أحبُّ الأعمالِ إلى اللهِ أدومُها وإن قلَّ» خو په عصري فکر کې ارزښت د پايلې، شمېر او مقدار له مخې سنجول کېږي؛ هر څومره چې توليد او لاسته‌راوړنه زياته وي، هماغومره ارزښت لوړ ګڼل کېږي.

**۴ــ د وخت ضایع کول:** په اسلام کې د وخت ضایع کول ستره خساره، بلکې ګناه ده. الله تعالی فرمايي:﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ خو په معاصر لیدلوري کې د وخت ضایع کول یوازې اقتصادي تاوان بلل کېږي؛ نه اخلاقي بُعد لري او نه اخروي حساب.

**۵ــ د وخت فلسفه – وخت د ازمويني ميدان:** په اسلام کې ژوند الهی امتحان دی، او وخت د همدې ازموینې ساحه ده. د انسان د وخت پایله یا جنت ده او یا جهنم. الله تعالی فرمايي:﴿لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ یعنې ژوند او وخت د الهي ازموینې پراخ میدان دی. خو په عصري نظر کې ژوند یوه پروژه ده، وخت د پروژې د مدیریت وسیله ده او پایله یې یوازې مسلکي پرمختګ یا مالي بریا ده.

**6ــ د وخت د مدیریت نظام؛** اسلام د وخت د مدیریت یو بشپړ، ژور او منظم عبادتي نظام وړاندې کوي، چې د انسان ژوند د ورځې، اونۍ او کال په کچه تنظیموي. پنځه وخته لمونځ د ورځې مقدس مهالویش جوړوي، جمعه د اونۍ روحاني محور دی، روژه، زکات او حج د کال ستر عبادتي تقویم ټاکي. په دې توګه د مؤمن د ژوند یو منظم مهالویش رامنځته کېږي. په حقیقت کې اسلام د بشر په تاریخ کې د وخت د تنظیم لپاره تر ټولو لرغونی او منظم نظام لري. په مقابل کې، عصري نړۍ فني لارې وړاندې کوي؛ لکه د دندو لړلیکونه، ډیجیټلي جنتري. د پومودورو طریقه (د لنډو وقفوي دورو له لارې د تمرکز سره کار کول)، د لیکلو له لارې د کارونو تنظیم او د آیزنهاور ماتریکس(Eisenhower Matrix) نظریه چې د لومړیتوب ټاکلو جدول ګڼل کېږي. دا نظامونه زیاتره د موثریت او تولید لوړولو لپاره طرحه شوي دي.

**۷ــ د وخت روحاني اړخ؛** اسلام د وخت پر روحاني او اخلاقي بُعد ژور ټینګار کوي. او موږ ته را زده کوي چې ښه نیت، عبادت، دعا، ذکر او د قرآن تلاوت وخت ته داسې برکت وربخښي چې عصري ساینس یې اندازه نشي کولی. برکت یوازې زیاتوالی نه دی؛ بلکې ژور اغېز، دوام او معنوي ځواک دی. خو عصري مدیریت یوازې فزیکي او ذهني انرژي حسابوي؛ روح، نیت او اخلاص پکې ځای نه لري.

**۸ــ وروستۍ علمي پایله:** په اسلام کې د وخت مدیریت یوازې یو فن نه، بلکې فلسفه، اخلاق، عبادت او د ژوند طرز دی. خو عصري مدیریت یوازې یو فني او اقتصادي نظام دی چې پر تولید او فردي بریا تمرکز کوي. که عصري فنونه د اسلامي نیت، تقوا او روحانیت سره یوځای شي او شریعت لارښود وي، نو د انسان لپاره به تر ټولو پیاوړی، متوازن او ژوندی نظام رامنځته شي.

**نچوړ:** مقایسوي څېړنه ښيي چې په اسلام کې د وخت مدیریت یوازې اداري مهارت نه دی، بلکې یو جامع اخلاقي، عبادي او ټولنیز نظام دی؛ په داسې حال کې چې معاصر نظریات تر ډېره پر اقتصادي موثریت او فردي لاسته‌راوړنو تمرکز کوي. د دواړو یوځای کول کولی شي د وخت د مدیریت یو بشپړ، متوازن او ژور نظام نړۍ ته وړاندې کړي.

## پای لیک

وخت د عزت او ذلت پټ راز دی؛ د انسان او تقدیر ترمنځ یوه پټه محکمه ده. که یې قدر وکړو، عزت او بریا راکوي او که یې ضایع کړو، حسرت او ماتې رازېږوي.
هره شېبه د برخلیک نوې پاڼه ده: یا پرې د بریا زرین تاریخ لیکل کېږي، یا د افسوس تور داستان. څوک چې وخت له لاسه ورکوي، په حقیقت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. وخت ضایع کونکي ملتونه د تاریخ له صحنې ورکېږي، خو وخت تنظیموونکي ملتونه تاریخ جوړوي او نړۍ رهبري کوي.
وخت د بریا تخم دی؛ خو حاصل یې یوازې هغه بزګر اخلي چې پر وخت یې وکري. همدا ننۍ شېبه، د سبا سرلیک دی.
هره شېبه د عمل ډګر دی؛ که نن کار وکړو، سبا به د بریا پر څوکه ولاړ یو او که نن وځنډېږو، سبا به د افسوس پر قبر ولاړ یو. وخت د توري په څېر دی؛ که د حق په لاره ترې ګټه وانه خلو، د ذلت ګوزار به راباندې وکړي. ملتونه د وخت په درناوي لوړېږي او خلک د وخت په ضایع کېدو راپرېوځي، ځکه همدا د ازموینې میدان دی.
نو راځئ! له غفلته ځان وساتو، وخت د خپل برخلیک د جوړولو وسیله وګرځوو، د عزت بنسټ او د بدلون ځواک یې وبولو او د همدې زرینې وسیلې په برکت ځان د عزت او وقار لوړو ماڼیو ته ورسوو.

**اخځلیکونه**

۱ــ الزمن والزمان اسم لقليل الوقت و كثيره، و في (المحكم) الزمن والزمان: العصر، والجمع أزمُن و أزمان و أزمِنة. قيمة الزمن عند العلماء ص: ۲۹ حاشية۱ من لسان العرب لابن المنظور۱۹۹:۱۳. فقهاء کرام د وخت لپاره بېلابېل اصطلاحات کاروي؛ لکه: زمان، أجل، الحِقب، الدهر، المُدّة او وَقت. او وخت په بېلابېلو واحدونو او ډولونو وېشل کېږي؛ لکه: ساعت، ورځ، هفته، میاشت، کال، قرن او نور. هر یو له دې اصطلاحاتو او وېشونو ځانګړی مفهوم، شرعي او عملي اعتبار لري.

۲ــ الإسراء: آية ۳۶. تفسیر کابلی جلد۱ ص: ۱۶۲۴.

۳ــ د امام أبویوسف رحمه الله واقعه: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۵۸. د اشرف علي رحمه الله واقعه: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۱۵۴. د خلیل بن أحمد بصري رحمه الله موضوع: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۵۶. د امام فخر الدین رحمه الله موضوع: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۱۱۶. د عبید بن یعیش رحمه الله واقعه: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۶۲. د امام ثعلب نحوی رحمه الله حکایت: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۷۵. د خطیب بغدادي رحمه الله حکایت: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۹۳. د ابن عدیم حلبي قصه: قیمة الزمن عند العلماء ص:۱۲۵.

۴ــ د امام نووي رحمه الله قصه:قیمة الزمن عند العلماء ص:۱۲۷، ۱۲۸. د شیخ جمال الدین قاسمي رحمه الله موضوع: قیمة الزمن عندالعلماء ص: ۱۵۱. د علامه ابن جوزی رحمه الله وصیت: قیمة الزمن عند العلماء ص: ۱۰۶ والرسالة (لَفتة الكبِد فی نصیحةِ الولد) والترجمة لیست لفظا بلفظ.

۵ــ رسول الله ﷺ فرمایي: أعمار أمتي مابین الستین إلی السبعین، و أقلهم من یجوز ذلک. زما د امتیانو عمرونه به غالبا د شپېتو او اویا کلونو تر منځ وي، او ډېر لږ کسان به وي چې له دې نه زیات عمر ته ورسېږي (ترمذي او ابن ماجه) دلته شپېته کاله غالباً یو مهم حد ګڼل کېږي. که د انسان د ژوند له شپېتو کلونو څخه د ماشومتوب شاوخوا دولس کاله لرې کړو، نو شاوخوا اته څلوېښت کاله پاتې کېږي. د دې عمر نږدې نیمایي برخه په خوب کې تېرېږي، نو شاوخوا څلورویشت کاله پاتې کېږي. بیا همدا لږ عمر د ژوند لپاره په مزدوري همدارنګه په خوراک، څښاک، سرېاوو، لوبو او د ژوند په بېلابېلو بوختیاوو کې مصرفېږي. نو انسان ته به څومره وخت پاتې شي چې په هغه کې د آخرت لپاره توښه برابره کړي؟ حال دا چې لا دا هم نه ده څرګنده چې زموږ کوم عمل د الله تعالی په دربار کې قبول دی او کوم نه او دا چې ایا ۶۰ ته به ورسېږو که نه؟

۶ــ صحیح بخاری: ۹۳۵.

۷ــ سورة العصر آية: ۱-۳. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۵۷-۱۷۵۶.

۸ــ سورة الفجر آية: ۲-۱. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۰۰.

۹ــ تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۲۳.

۱۰ــ سورة اللیل آية: ۲-۱. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۱۹.

۱۱ــ الشمس آية: ۴-۳. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۱۵.

۱۲ــ التکاثر آية: ۸. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۷۵۶.

۱۳ــ یونس آية: ۲۴. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۱۷۶-۱۱۷۵.

۱۴ــ الفرقان: آية ۶۲. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۳۷۳.

۱۵ــ سورة فاطر ۳۷: تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۷۷۳.

۱۶ــ سورة إبراهیم آية ۴۴. تفسیر کابلی جلد۱ ص: ۱۴۶۵.

۱۷ــ سورة الأعراف ۳۴: تفسیر کابلی جلد۱ ص: ۸۶۵.

۱۸ــ سورة الملك آية: ۲. تفسیر کابلی جلد۲ ص: ۱۴۸۰.

۱۹ــ مؤمنون: آية: ۳. تفسیر کابلی جلد۲ ص:۲۳۹.



# فلورایت

**مشخصات عمومی**

فلورایت(Fluorite) با فرمول کیمیاوی(Caf2) عبارت از منرال اساسی و طبیعی فلورین بوده که معادن صنعتی آن درکاربناتیت‌ها، پگماتیت‌ها و تشکیلات هایدروترمالی تثبیت گردیده است. فلورایت دارای سختی نسبتاً پائین بوده که هم به حیث منرال وهم به حیث منبع فلورین در صنعت موارد استفاده فراوان داشته و در اکثر مملکت‌های جهان به کثرت استخراج می گردد.

**انواع فلورایت**

فلورایت نظر به رنگ و سیستم کرستلی به انواع و اقسام مختلف از بی رنگ تا سبز، سرخ، زرد، لاجوردی، آبی وغیره در طبیعت دریافت می‌شود. و همچنان دارای سیستم کرستلی مکعبی، هشت وجهی و بدون شکل می‌باشد.

**معادن فلورایت در افغانستان**

ظواهر معدنی فلورایت در حال حاضر در ولایات کندهار، ارزگان و ننگرهار تثبیت گردیده است اما ظواهر مثمر آن تنها در زون ارغنداب- تیرین وجود داشته و معدن فلورایت باخوت ولسوالی نیش ولایت کندهار نیز در این زون قرار دارد که از شهرت جهانی برخور دارد می‌باشد.





## سنگ تراورتین

تروارتین(Travertine) با فورمول کیمیاوی($CaCO_3$) عبارت از نوعی سنگ رسوبی آهکی بوده که در اثر فعالیت چشمه‌های آب گرم تشکیل می‌شود. آبهای گرم زیرزمینی به دلیل داشتن($CO_2$) منحل کننده کلسیم کاربنات به ویژه سنگ چونه زمانیکه از مسامات و درزهای آن در حال عبور می‌باشد مقدار از این سنگ‌ها را با خود حل نموده و به شکل محلول با مقدار کمی از عناصر(Al, Fe, Mg, Ca) که باعث بوجود آمدن رنگ‌های مختلف تراورتین می‌شود در اطراف چشمه‌ها ترسب می‌نماید، آبهای مذکور حین رسیدن به سطح زمین به دلیل از دست دادن فشار، حرارت و آزاد شدن کاربن دای اکساید بلورهای کلسیت را شکل می‌دهد که پایداری شرایط فوق و تداوم تشکیل لایه‌های کاربناتی باعث بوجود آمدن ضخامت یکنواخت از کلسیم کاربنات متخلخل( تراورتین) می‌شود.

## انواع سنگ تراوتین نظر به رنگ

رنگ سنگ تراروتین بستگی به میزان محلول عناصر(کلسیم، آهن، مگنیزیم) وغیره می‌باشد که باعث بوجود آمدن رنگ‌های سفید، کرمی، قهوه ای، زرد، نارنجی مایل به سرخ و دیگر رنگ‌ها در آن می گردد.

## معادن تراورتین در افغانستان

ظواهر و معادن تراورتین در ولایات بامیان، پروان، دایکندی، غزنی، کابل، میدان وردک و هرات به ثبت رسیده است که بعضی از این معادن عملاً فعال بوده و روند استخراج سنگ معدنی تراروتین از آنها صورت می گیرد.

## موارد استفاده

سنگ تراورتین به دلیل زیبایی، رنگ بندی‌های مختلف، قابلیت صیقل پذیری و سبک بودن وزن آن در صنعت ساختمان سازی موارد استفاده گوناگون از قبیل نماسازی، کف‌سازی، راه پله وغیره را دارد و همچنان در صنعت مجسمه سازی نیز از این سنگ استفاده می شود.







# معلومات مختصر در مورد معرفی ریاست پـــروژه مـــس عـــینـــک

**اهداف پروژه**

وزارت معادن و پترولیم جهت تحقق اهداف ستراتیژیک مملکت و پیروی از قانون و مقرره معدنکاری مکلف گردیده است تا فرصت‌های مناسب کاری را جهت جلب و جذب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی به بخش معادن مهیا سازد تا باشد، صنعت معدنکاری در مملکت رشد و رونق یابد، به همین منظور این وزارت جهت انکشاف صنعت معدنکاری و بهره برداری از معادن مملکت، رشد متداوم اقتصاد و عواید داخلی به منظور خود کفایی مالی، اشتغال‌زایی و بلند بردن سطح زندگی مردم و انکشاف زیر بناها، این وزارت معدن مس عینک را با یکی از کمپنی‌های معتبر کشور چین کمپنی(MCC-MJAM) از طریق رقابت آزاد مطابق قانون معادن و حکم مصوبه(۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۲/۱۶ که منافع مردم ودولت افغانستان در آن برجسته گردیده عقد قرارداد نموده است.

**معرفی ریاست پروژه مس عینک**

وزارت معادن و پترولیم با در نظر داشت مبرمیت و مثمریت پروژه معدن مس عینک و ساحات کاری پروژه جهت آماده سازی شرایط کار و تسهیلات لازم و هماهنگ نمودن فعالیت‌ها به منظور تسریع روند فعالیت‌های معدنکاری کمپنی (MJAM) و مدیریت بهتر از تطبیق شرایط قرارداد معدنکاری، تصمیم گرفت تا ادارهٔ پروژهٔ معدن مس عینک را به تارخ ۱۳۸۹/۸/۲۹ در چوکات این وزارت ایجاد نماید تا این اداره بتواند فعالیت‌های مثمر و متداوم خویش را با در نظر داشت وظایف تعین شده به وجه احسن در روشنی قانون معادن، پالیسی‌ها و پروسیجر های کاری انجام دهد. با آمدن امارت اسلامی افغانستان وزارت معادن و پترولیم طبق لزوم دید اولویت‌های کاری این وزارت و اهمیت اقتصادی و فنی این پروژه بزرگ داخلی کشور که با داشتن ساحات کاری وسیع که در برگیرنده صدها پروژه‌های ضمیموی دیگر می‌باشد، اداره متذکره را تحت عنوان ریاست پروژه مس عینک در تشکیل سال(۱۴۰۰) وزارت معادن و پترولیم ایجاد نمود.

ریاست پروژه مس عینک با در نظر داشت اهداف تعین شده، لایحه وظایف و پلان‌های طویل مدت و کوتاه مدت منظور شده خویش

وظایف کاری را در بخش‌های مدیریت و نظارت از فعالیت‌های پروژه‌ها، طرح و ترتیب پلان کاری ریاست، هماهنگ کردن تمام فعالیت های ریاست با پلان استراتیژیک این وزارت با همکاری(۱۵) تن از انجنیران، کارشناسان و پرسونل اداری که در بخش‌های فنی، اقتصادی، حقوقی، اجتماعی و محیط زیستی در پروژه‌های مس عینک اول و دوم مصروف کار اند، به پیش می‌برد.

**مسؤولیت‌ها**

ریاست پروژه مس عینک با در نظرداشت صلاحیت‌های وظیفوی و شرایط مواد قراردادهای معدنکاری مس عینک اول و دوم جهت تطبیق بهتر فعالیت‌های کاری و عملیاتی پروژه‌های متذکره مسؤلیت‌های عمده ذیل را به عهده دارد.

۱ ــ مدیریت و نظارت از تمام فعالیت‌های فنی و عملیاتی پروژه‌های مس عینک اول و دوم.

۲ ــ طرح و ترتیب پلان کاری ریاست جهت پیشبرد بهتر و تسریع فعالیت‌های کاری پروژه‌ها.

۳ ــ هماهنگ کردن تمام فعالیت‌های ریاست با پلان استراتیژیک این وزارت.

۴ ــ هماهنگی لازم جهت تطبیق و تسریع فعالیت‌های کاری پروژه‌ها با وزارت خانه‌ها، ادارات ولایتی و سایر ادارات امارتی و خصوصی در بخش‌های امور زمین داری، تأمین آب و برق مورد نیاز پروژه‌ها، مسائل گمرکی، امور اجتماعی و محیط زیستی، امور امنیتی، ماین پاکی، امور ساختمانی و سایر بخش‌های مورد ضرورت پروژه‌های مس عینک اول و دوم.

**وظایف**

**الف - وظایف تخصصی**

۱ ــ ترتیب پلان کاری و نظارت از روند فعالیت پروژه‌ها و گزارش دهی به مقام وزارت.

۲ ــ فراهم نمودن شرایط مناسب کاری جهت تطبیق قراردادهای معدنکاری مس عینک.

۳ ــ حصول اطمینان از تطبیق قوانین حاکم در اجراآت اداری و مالی پروژه‌ها.

۴ ــ مدیریت سیستم اسناد دفتری از اجراآت بخش‌های مختلف پروژه‌ها.

۵ ــ هماهنگی و تنظیم ارتباطات با طرف قراردادی جهت حل و فصل معضلات و تسهیل خدمات برایشان.

٦ ــ مدیریت مسایل فنی پروژه مس عینک.

۷ ــ ایجاد میکانیزم نظارت و ارزیابی کارمندان ریاست.

۸ ــ تحقق اهداف و برنامه‌های استراتیژی وزارت معادن و پترولیم و استراتیژی ملی مبارزه علیه فساد اداری در ساحهٔ کاری مربوطه.

**ب - وظایف مدیریتی**

۱ ــ تهیه و ترتیب پلان کاری ماهوار، ربعوار و سالانه در مطابقت با پلان عمومی، جهت بدست آوردن اهداف استراتیژیک وزارت.

۲ ــ تشخیص و ارایه پیشنهاد نیازمندی‌های بودجوی به اساس پلان کاری سالانه ریاست مربوطه.

۳ ــ مدیریت مسایل مربوط به فعالیت‌های استملاک، اسکان مجدد و مسایل اجتماعی.

۴ ــ رعایت و حصول اطمینان از تطبیق قانون اجراات اداری، مقرره طرز سلوک در ساحهٔ کاری مربوطه.

۵ ــ تدویر برنامه‌های آموزشی و فنی به منظور ارتقا و رشد ظرفیت کارمندان ریاست جهت تحقق اهداف مطلوب اداره.

**ج - وظایف هماهنگی**

۱ ــ هماهنگی با ادارات مربوطه جهت رسیدگی به امورات خدمات اجتماعی و اسکان مجدد .

۲ ــ هماهنگی با وزارت خانه‌ها و ادارات محلی مربوطه جهت فراهم نمودن تسهیلات و خدمات مورد ضرورت پروژه‌ها.

۳ ــ هماهنگی جهت ایجاد برنامه‌های آموزشی فنی و حرفوی برای کارمندان و کارگران افغان طبق شرایط مواد قرارداد معدنکاری.

۴ ــ هماهنگی در خصوص نیازمندی‌های تدارکاتی پروژه‌ها با بخش‌های مربوط اداری و تدارکات.
۵ ــ تدویر مجالس به منظور هماهنگی پیشبرد بهتر فعالیت‌ها، رسیدگی به معضلات و چالش‌های فنی و اجتماعی ناشی از تطبیق فعالیت های معدنکاری در ساحات کاری پروژه‌ها.

**د - تعاملات و روابط عمومی**

۱ ــ هماهنگی با نهادهای دولتی و خصوصی در راستای اجرای امور بهتر پروژه‌ها .
۲ ــ ارتباط مؤثر با جامعه محلی برای جلب حمایت و کاهش مشکلات اجتماعی.
۳ ــ گزارش دهی مستمر به مقامات ذیربط در مورد پیشرفت پروژه‌ها.

**دست آوردهای سال ۱۴۰۳**

۱ ــ مذاکرات و بحث‌های فنی روی تمام موارد پیشنهادی کمپنی(MJAM) مبنی بر بازنگری و تعدیل در قرارداد معدنکاری مس عینک از جانب هیئت‌های فنی این وزارت و هیئت بین‌الوزراتی نهایی گردیده و بعد از منظوری آن از جانب کمیسیون اقتصادی ریاست الوزرا ا.ا.ا صرفاً از جمله تعدیلات پیشنهادی کمپنی دو موارد آن که شامل تمدید میعاد قرارداد معدنکاری و روش معدنکاری زیر زمینی منظور گردیده و تطبیق سایر شرایط مواد قرارداد معدنکاری بالای کمپنی(MJAM) الزامی می‌باشد.
۲ ــ تکمیل شدن روند ماین پاکی ساحات پلان شده در قریه در بند ولسوالی خاک‌جبار ولایت کابل جهت تطبیق فعالیت‌های اکتشافی پروژه مس عینک اول.
۳ ــ تکمیل شدن سروی فنی روی تثبیت منابع آب مورد ضرورت پروژه مس عینک در همکاری با وزارت محترم انرژی و آب.
۴ ــ پیشرفت حدود(٦٥) در صد فعالیت‌های اکتشافی در پروژه مس عینک دوم تحت نظارت تیم‌های فنی ریاست پروژه مس عینک در بلاک چهارم واقع ولسوالی محمدآغه ولایت لوگر و بلاک پنجم واقع در ولسوالی موسهی ولایت کابل.
۵ ــ تحلیل و ارزیابی‌های نهایی روی طرح مشترک زیرزمینی معدن مرکزی و غربی عینک، طرح ایجاد فابریکه ذوب مس در ساحه عینک و راپور اکتشاف تکمیلی عینک غربی در همکاری هیئت‌های فنی وزارت معادن و پترولیم.
٦ ــ تکمیل شدن روند ارزیابی و بررسی حدود(۹) کیلومتر مربع زمین مورد نیاز عینک دوم جهت اعمار کمپ و ایجاد دستگاه پروسس مس در ساحه دشتک ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر به همکاری تیم فنی ریاست محترم عمومی اراضی وزارت محترم زراعت،آبیاری و مالداری.
۷ ــ برنامه‌های آموزشی زبان انگلیسی در داخل و خارج وزارت به همکاری مالی کمپنی(MJAM) برای(۳۰) تن از کارمندان وزارت معادن و پترولیم تدویر گردیده است.

**پلان سال جاری ۱۴۰۴**

ریاست پروژه مس عینک با در نظر داشت پلان منظور شده کاری خویش از جانب مقام محترم وزارت معادن و پترولیم جهت تطبیق بهتر فعالیت‌های کاری پروژه‌های این ریاست عمده ترین فعالیت‌های ذیل را برای سال( ۱۴۰۴) هـ ش پلان نموده است.

۱ ــ تداوم مذاکرات با کمپنی‌های قراردادی جهت آغاز فعالیت‌های عملیاتی و انکشاف روندهای معدنکاری.
۲ ــ مدیریت ونظارت از امورات فنی پروژه‌های مس عینک اول و دوم در ساحات کاری.
۳ ــ نظارت از روند ایجاد تأسیسات زیربنایی در ساحات مس عینک اول و دوم.
۴ ــ هماهنگی و فراهم نمودن تسهیلات لازم جهت انکشاف متداوم و بهره برداری از پروژه‌های معدنکاری مس عینک.
۵ ــ ارتقأ ظرفیت کارمندان در بخش‌های فنی و مدیریتی با استفاده از روش‌های عصری در داخل و یا خارج کشور.
٦ ــ پیگیری و حصول اطمینان از تطبیق بهتر امورات اجرائیوی ریاست پروژه مس عینک.

Islamic Emirate of Afghanistan

# Ministry of Mines and Petroleum

وخت د عزت او ذلت پټ راز دی؛ د انسان او تقدیر ترمنځ یوه پټه محکمه ده. که یې قدر وکړو، عزت او بریا راکوي او که یې ضایع کړو، حسرت او ماتې رازیږوي. هره شېبه د برخلیک نوې پاڼه ده: یا پرې د بریا زرین تاریخ لیکل کېږي، یا د افسوس تور داستان. څوک چې وخت له لاسه ورکوي، په حقیقت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. وخت ضایع کونکي ملتونه د تاریخ له صحنې ورکېږي، خو وخت تنظیمونکي ملتونه تاریخ جوړوي او نړۍ رهبري کوي.

**مفتي مير محمد نبي برهاني**

د کانونو او پټرولیم وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمر



# Mines Magazine

www.momp.gov.af

@MoMPMinistryAFG

MoMPAfghanistan

@MoMP-Afghanistan

Macroryan Square, Kabul, Afghanistan

د کانونو او پټرولیم وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت